# مقدس کتاب
# ځرنګه ولولو

GLOBAL UNIVERSITY

# مقدس کتاب

# څرنګه ولولو

GLOBAL UNIVERSITY

# مقدس کتاب څرنګه ولولو

ليکونکی
توماس مَغوري

***Global University***
***P.O.Box 5749***
***Nicosia, Cyprus***

# مقدس کتاب څرنګه ولولو

لومړی چاپ ۲۰۰۶

© 2006 All Rights Reserved

***Pashto "How to Study the Bible"***
***2006***

*Global University*
*P.O. Box 5749*
*Nicosia, Cyprus*

# د مضمونونو فهرست

سرليک د پاڼې نمبر


۱ لوست: د مقدس کتاب د لوستلو دليلونه ........................ ۲

۲ لوست: د مقدس کتاب په اړه اساسي اطلاعات ............ ۲۰

۳ لوست: مقدس کتاب، يو ادبي کتاب ........................ **۳۷**

۴ لوست: د مقدس کتاب د لوستلو لپاره تياري ............. **۵۵**

**۵** لوست: د مقدس کتاب د کتابونو د لوستلو طريقه ........ **۷۵**

۶ لوست: دمقدس کتاب د موضوعي لوستنې طريقه........ ۹۱

۷ لوست: د مقدس کتاب د شخصيتونو مطالعه............ ۱۱۱

۸ لوست: په مينې او وقف سره د مطالعې طريقه............ ۱۲۷

لومړی لوست

# د مقدس کتاب د لوستلو دلیلونه

په مقدس کتاب کښې راغلي دي چې: "حکمت ته غوږ ونیسه او د پوهې په لټه کښې شه. که چېرې علم او کمال زده کړې او لکه د سپینو زرو په شان هغه لاس ته راوړې. هغه وخت به خدای وپېژنې او د خدای وېره به ستا په زړه کښې پیدا شي" (متلونه ۲: ۲ – ۵).

آیا تر اوسه پورې مو کله د اوبو د نشتوالي کړاو لیدلی دئ؟ کله چې د کرهنې، څارویو، او د خپل ځان لپاره اوبه ونلرئ، نو ښایې په داسې حالاتو کښې ځمکه ډېره ژوره وکینئ ترڅو د اوبو سطحې ته ځان ورسوئ. هو! کله چې د اوبو په څېر یو مهم شي ته کلکه اړتیا پیدا کړئ نو د هغې د لاسته راوړلو لپاره خپلې ټولې هلې ځلې پکار اچوئ ترڅو هغه تر لاسه کړئ. همدا رنګه کله چې د خدای کلام لولئ ترڅو هغه وپېژنئ او پوهه او حکمت ترې حاصل کړئ نو باید په پوره زیار او کوشش سره د هغې پلټنه وکړئ تر څو د هغې د مفهوم په ژورتیا ځان پوه کړئ. بلکل لکه څنګه چې د اوبو په لټه کښې استئ. که چېرې په همدې شکل سره د خدای کلام مطالعه کړئ نو د ژوند اوبه به تر لاسه کړئ. عیسی د اوبو د کلیمې څخه په استفادې

سره، چې د ژوند یوه ضروري اړتیا ده، زمونږ روحاني اړتیاوو ته اشاره کوي او وایي: ”خو کومې اوبه چې زه ورکوم د هغې د څښلو نه پس به څښونکی هیڅکله هم بیا نه تږی کیږي. زه به کومې اوبه ورکوم هغه به په هغهٔ کښې د ننه یوه چینه شي چې همیشه به بهیږي او د تل ژوندون به ورله ورکوي“
(یوحنا ۴: ۱۴).

د دی لپاره چې د ابدي ژوند د اوبو د څښلو وړ شو باید هره ورځ مقدس کتاب ولولو. دا لوست مونږ ته وائي چې ولې مونږ مقدس کتاب لولو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- د خدای اراده
- د خدای سره زمونږ اړیکې
- زمونږ اړتیاوې
- زمونږ عقیدې او فکرونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

په دې پوه شئ چې ولې د مقدس کتاب لوستل ضروري ده.
دا وضاحت وشئ کړای چې څرنګه د مقدس کتاب لوستل زمونږ اړتیاوې پوره کوي.
په ژور فکر سره مقدس کتاب ولولئ.

# د خدای اراده

که چېرې کوم کس په تاسو ګران وي نو همیشه غواړئ چې د هغه په څنګ کښې واوسئ. همدا راز غواړئ چې د هغه په اړه په ټولو شیانو ځان خبر کړئ. تاسو دا خوښوئ چې د هغه احساسات او افکار درک او هغه خوشحاله وساتئ. او کله چې د دې نږدې اړیکو په وجه ستاسو مینه له هغه سره زیاته شوه، نو تاسو به نور هم خوشحاله، بشپړه او پلټونکي شئ. د خدای اراده زمونږ لپاره داسې ده چې د هر شي څخه زیات د هغهٔ سره مینه وکړو او هغه خوشحاله وساتو. که چیرې مونږ په واقعي توګه له خدای سره مینه لرو او هغه خپل دوست ګڼو نو هغهٔ ته دا موقه ورکوو چې هغه ښه وپېژنو. مونږ کولای شو چې دا کار د هغهٔ د کلام د مطالعې له لارې تر سره کړو او د هغې په ترڅ کښې به زمونږ مینه له هغهٔ سره نوره هم زیاته شي. د خدای سره زمونږ اړیکې د هغه د حکمونو نه د اطاعت او فرمانبردارۍ سره تړاو لري. او یوازې د هغه په حکمونو د پوهېدلو له لیارې مونږ کولای شو چې د هغهٔ فرمانبرداري وکړو. مقدس کتاب مونږ ته وائي چې باید تر آخري حده زیار وباسو ترڅو په سمه توګه نورو ته د خدای د کلام تعلیم ورکړو. (دویم تیموتیوس ۲: ۱۵ وګورئ) مسیح هم د خدای د کلام د ښه درک کولو په ارزښت ټینګار کړی دی او وایي: "...صحیفی وائی چې: (بنی

آدم تش په ډوډۍ نه پائی. خو هغه په هره هغه خبره پائی چې د خدای د خُلې نه وځي» (متی ۴ : ۴).

کله چې د خدای د کلام د معنی په درک باندې سوچ کوو، په حقیقت کښې د خدای د فرمان یوه لویې برخې ته عملي بڼه ورکوو. مقدس کتاب کښې راغلي دي چې: «د مالک خدای سره د زړهٔ په راستئ، په پوره روح او په پوره عقل سره مینه لرئ» (متی ۲۲ : ۳۷). په بل عبارت، د دی لپاره چې د خدای اراده سرته ورسوو باید د هغهٔ کلام مطالعه کړو. چې په دې توګه د هغه حکمونه زده کوو او هغه سره زیات نه زیات مینه ښکاره کوو.

## د خدای سره زمونږ اړیکې

په ۱۱۹ زبور کښې داود بادشاه مونږ ته په ډاګه کوي چې د خدای شریعت زده کړو. په دې زبور کښې د شریعت کلمه د مقدس کتاب د حکمونو او نصیحتونو په معنی استعمال شوې ده. داود په بیا بیا دغه موضوع تکراروي چې زده کول او اطاعت د یو بل سره تړلي دي، یعنې سره لاژم او ملزوم دي. هغه وائي: «که چیرې ستا ټولې لارښونې همیشه په یاد ولرم او هغه په پام کښې ونیسم، هیڅ وخت به مخ تورن او خجالت نه شم» (زبور ۱۱۹ : ۶).

د خدای د حکمونو څخه تابعداري د هغهٔ د کلام په معنی د پوهيدلو سبب ګرځي او په نتيجه کښې مونږ کولای شو چې د خدای کلام ته له خپل ژوند سره تړاو ورکړو او هغه نورو ته هم زده کړو. په اول پطروس ۲: ۲ کښې لولو: "د نوو پيدا شوو بچو په شان خالص روحاني پيو خواهشمند اوسئ چې د هغو په وسيله د خلاصون موندلو د پاره لوئيږئ."

د خدای د کلام په لوستلو سره کولای شو چې د کولوسيانو ۳: ۱۶ آيت په خپل ژوند کښې تجربه کړو چې وايي: "د مسيح کلام د ستاسو په زړونو کښې ډېر ځای ومومي، او په خپلو کښې يو بل ته تعليم ورکوئ او نصيحت کوئ، او په خپلو زړونو کښې د شکر ګزارۍ سره د خدای ثنا، زبور او روحاني سندرې وايئ." لکه څنګه چې خواړه زمونږ بدن ته قوت وربخښي د خدای کلام هم زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د روحاني اړخه وده وکړو. مونږ د روحاني له لحاظه هغه وخت وده او ترقي کولای شو چې خپل روح د خدای له دې بډايه کلام څخه تغذيه کړو. د روح القدس په مرستې سره د خدای د کلام مطالعه آسانيږي. خدای زمونږ نه دا تمه لري چې د هغهٔ کلام ولولو. هغهٔ مونږ ته روح القدس بخښلی دی ترڅو مونږ ته زده کړه راکړي او زمونږ لارښودنه وکړي. عيسی مسيح خپلو شاګردانو ته وويل: "خو کله چې د حقيقت روح راشي نو هغه به تاسو ته دا ټول حقيقت وښيي ځکه چې هغه به له خپله ځانه

هېڅ نه وايي، خو هغه څه به وايي کوم چې هغه اوري او هغه به تاسو په راتلونکي واقعاتو خبر کړي“ (یوحنا ۱۶: ۱۳).

# هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

د صحيح ځواب مخې ته د (✓) نښه ورکړئ؟

۱_ ستاسو د پاره د خدای اراده دا ده چې:

الف) له هغهٔ سره د مينې او محبت پر بنياد اړيکې ولرئ.

ب) همېشه ديندار او مذهبي واوسئ.

ج) د مقدس کتاب په اړوند ډير زيات معلومات ولرئ.

۲_ د مقدس کتاب لوستل ستاسو لپاره ضروري ده ځکه،

الف) د هغې په وسيله مسيحيان کيږئ.

ب) د خدای اراده درک کوئ.

ج) خپل ښه والی ثابتوئ.

۳_ د خدای د ارادې څخه فرمانبرداري ................... تړاو لري.

الف) هغه ځوابونو پورې چې د ژغورنې پر وخت مو خدای ته ورکړي دي

ب) د خدای د حکمونو او فرمانونو له يادولو سره

ج) د دې ټکي په پوهيدلو سره چې د نافرمانۍ په صورت کښې به خدای تاسو ته سزا درکوي،

۴_ هغه وخت کولای شئ چې د خدای د کلام د لوستلو دنده په ښه توګه ترسره کړئ چې:

الف) له خپلو دوستانو څخه وغواړئ چې تاسو
سره مرسته وکړي.
ب) د هغهٔ لپاره خاص وخت ځانګړی کړئ.
ج) روح القدس ته اجازه ورکړئ چې ستاسو
لارښوونه وکړي او تعلیم درکړي.

## زمونږ اړتیاوې

خدای پاک مونږ پیدا کړو. مونږ د هغهٔ لپاره ډیر اهمیت لرو. هغه زمونږ په اړتیاوو زمونږ څخه زیات پوهېږي. د یو شي جوړونکی د خپل محصول په خواصو د هر چا نه زیات پوهېږي. که چېرې جوړ شوی شی په سمه توګه کار ورنکړي. نو هغه خپل اصلي جوړونکي ته لیږو ترڅو هغه جوړ کړي. زمونږ ژوند خراب شوی دی. مونږ اکثراً په غمونو او ناقراریو کښې پرېوتي یو. ناوړه او بد عادتونه لرو او لکه څنګه چې لازمه ده د خدای نه مو پیروي نه ده کړې. مونږ بیا جوړونې، رغونې، سمونې او تعلیم ته کلکه اړتیا لرو او د خدای کلام هغه یواځېنی وسیله ده چې په هغې سره کولای شو دغه رغونه او جوړونه په خپل وجود کښې تر سره کړو. د نوي لوظنامې په دویم تیموتیوس ۳: ۱۲– ۱۷ کښې راغلي دي چې: "هره صحیفه د خدای د روح د الهام په وسیله ده او د تعلیم الزام، اصلاح او صداقت د تربیت د پاره فایده مند هم. د دې د پاره چې د خدای بنده کامل شي او د هر نیک کار د پاره بالکل تیار شي."

کله چې مونږ عیسی مسیح د خپل ژغورونکي په صفت قبلوو نو خدای زمونږ د ژوند په اصلاح کولو شروع کوي، د ګناهونو څخه مو پاکوي او د ژوندون یو نوی پېل مونږ ته راپه برخه کوي. مونږ ته دا زده کوي چې څرنګه کولای شو چې د عیسی مسیح په څیر شو. د مقدس کتاب تعلیمات زمونږ د ودې او ترقۍ لارښوونکي دي او زمونږ په ورځني چارو کښې د خدای اراده مونږ ته څرګندوي. کله چې د خدای کلام مونږ اصلاح کوي نو زمونږ ډیر ضرورتونه هم پوره کوي. د خدای کلام مونږ سره مرسته کوي ترڅو د خپلې ژغورنې په هکله حقیقت درک کړو. مونږ ته دا تعلیم راکوي ترڅو د عیسی مسیح په میراث کښې خپله برخه وپېژنو. د خدای کلام د عیسی مسیح له لیارې مونږ ته قوت او طاقت رابخښي. مونږ ته وائي چې څرنګه کولائ شو د روح نه معمور شو او همدارنګه خوښي، امن او الهي نیکمرغي زمونږ په برخه کوي. او مونږ ته لارښودنه کوي ترڅو یو سپیڅلی ژوند ولرو.

عبرانیان ۴: ۱۲ مونږ ته وائي: ”ځکه چې د خدای کلام ژوندی او اثرناک او د هرې یوې دوه مخې تورې څخه زیات تیرۀ دی چې د انسان د ځان او روح نه تیریږي او اندام اندام، او مغز جدا کوي. او د زړه په خیالونو او ارادو تحقیق کوي.“

کله چې زمونږ هیلې د خدای د ارادې په مطابق نه وي، د خدای کلام هغه مونږ ته په ډاګه کوي. د خدای کلام زمونږ سره مرسته کوي ترڅو خپل فکرونه او خیالونه د خدای له فکرونو

سره یوشان کړو. لکه څنګه چې مفصلونه او ماغزه زمونږ د بدن لپاره حیاتي ارزښت لري، همدا شان زمونږ سوچونه او خیالونه هم زمونږ د روحاني ژوند اساسي کړۍ جوړوي. هر څومره چې مقدس کتاب زیات مطالعه کړو او د روح القدس لارښونو ته غوږ ونیسو او هغه عملي کړو، په هماغه اندازه به د خدای اراده په ښه توګه مونږ ته څرګنده شي. مونږ په خپل ژوند کښې خاص هدف لرو او غواړو چې په حکمت او پوهې سره یوه سمه لاره د ځان لپاره غوره کړو. مقدس کتاب وائي: "ستا د کلام درک کول انسان ته روښنایي وربخښي او د ساده زړه لرونکي خلکو ته پوهه ورکوي او هغوی هوښیاروي" (زبور ۱۱۹: ۱۳۰). دغه روښنایي مونږ ته په ورځني ژوند کښې لارښونه راکوي او مونږ سره مرسته کوي ترڅو د عیسی مسیح د بیا راتللو سره په آسمان کښې خپل ابدي ژوندون درک او هغه وپیژنو. د خدای د کلام رڼا مونږ د عیسی مسیح په شان جوړوي. د خدای د کلام په لوستلوسره زمونږ په ژوند کښې هغه بدلون په سترګو شي کوم چې په نوې لوظنامې کښې د هغې ذکر شوی دی. "...ځکه چې تاسو زوړ انسانیت د هغه عملونو سره لرې کړی دی، او نوی انسانیت مو اغوستی دی" (کولوسیان ۳: ۹ او ۱۰).

ددې بدلون په نتیجه کښې به د مسیح رڼا او روښنایي زمونږ له طریقه پر دې وروکې شوې نړۍ او د هغې په اړوندو اوسېدونکو باندې وځلېږي. کله چې مونږ په واقعي توګه خدای وپیژنو، نو زمونږ روح د خدای د روح سره چې د ژوند سرچینه

ده یو ځای او متحد کېږي. په دې توګه زمونږ لویه اړتیا چې ژوند دی، رفع کېږي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵ـ څوک کولای شي چې زمونږ اړتیاوې په ښه توګه پوره کړي؟

الف) مونږ پخپله

ب) زمونږ پلار او مور

ج) خدای

۶ـ لاندینۍ جمله پوره کړئ.

د خدای کلام د .......... په څیر دی ځکه چې مونږ ته لار ښيي او ژوند راکوي.

۷ـ د لاندینو عبارتونو څخه کوم یو د دې جملې پوره کوونکی دی؟

مقدس کتاب مونږ ته تعلیم راکوي چې ..............................

الف) څرنګه ځانګړي امتیازونه ترلاسه کړو.

ب) د خپل ځان په هکله د خدای اراده درک کړو.

ج) د نړۍ لوی مذهبونه وپېژنو.

۸ـ د لاندیني عبارتونو څخه کوم یو دا لاندې جمله پوره کوي؟

د خدای کلام زمونږ اړتیاوې د ..................له لیارې پوره کوي.

الف) حقیقت د تعلیم ورکولو

ب) زمونږ د محکومولو
ج) زمونږ عیبونو د اصلاح کولو
د) صحیح ژوند ته د لارښوونې

## زمونږ عقیدې او فکرونه

مقدس کتاب د نورو کتابونو سره فرق لري. لکه څنګه چې تاسو د خپلې کورنۍ د یوۀ غړي لیک کولای شئ د یو پردي سړي په نسبت ډېر ښه وپېژنئ او پر هغۀ وپوهېږئ، همدارنګه واقعی مسیحیان هم کولای شی چې په ښه توګه د خدای کلام وپېژني او پر هغۀ پوه شي. دا خبره بلکل امکان لري ځکه مونږ د خدای بچیان یو او په خپل خلاصون سره مو نوې زیږیدنه ترلاسه کړې ده. مونږ د خدای روح له ځانه سره لرو لکه څنګه چې د نوې لوظنامې د کورنتیانو په اول خط ۲: ۱۲ کښې د هغې ذکر راغلی دی.

د خدای په کورنۍ کښې زیږیدنه فقط یو پیل دی. د خدای د کلام په مطالعې سره مونږ د الهی حقایقو د پوهېدنې او پېژندنې لپاره ډېر زیات تږي او لیواله کېږو. لکه د یو کوچني ماشوم په شان چې هره ورځ خپل مور او پلار ته ځي ترڅو هغۀ ته خوارۀ ورکړي. مونږ هم باید خپل خدای ته ورشو ترڅو زمونږ روحانی تنده ماته کړي (اول پطروس ۲: ۲ مطالعه کړئ).

همدا شان د خدای کلام ته باید په هغې مفکورې سره ورنږدې شو چې اطاعت هم ورسره مل وي. هغه اولاد چې فرمانبرداره وي هغه په مور او پلار ډېر ګران وي او د خپل د

کورني جایداد څخه به ډېر میراث لاس ته راوړي. هغه د خپل مور او پلار لارښونو ته غوږ نیسي او په نصیحتونو یې عمل کوي. پولوس رسول په خپل لومړي لیک کښې د کورنتیانو کلیسا ته د هغوی د نافرمانۍ په اړوند لیکي او هغوی ته نصیحت کوي. پولوس هغوی ته په ډاګه کوي چې د شخړو او د بدو فکرونو له امله هغوی په روحاني لحاظ وده نده کړې. هغۀ وویل:

"ای وروڼو، ما تاسو سره هغه شان خبرې ونه کړی شوې لکه چې د روحانیانو سره بلکه داسې لکه چې د دنیاوي خلکو او د هغوی سره چې په مسیح کښې ماشومان دي. ما تاسو ته پې درکړلی خو ډوډۍ نه، ځکه چې په تاسو کښې د هغې زغم نه وو بلکه اوس هم درکښې زغم نشته. ولې چې تر اوسه دنیا دار یئ، ولې چې په تاسو کښې کینه او جګړه ده. نو آیا تاسو دنیادار نه یئ څه؟ او د دنیا په مطابق مو یون ونه کړو" (اول کورنتیان ۳ : ۱ - ۳)؟

زمونږ فکري طرز باید د زدکړې سره اوږه په اوږه وي. مونږ نشو کولای چې د خدای څخه دا تمه ولرو چې هغه خپل حقایق مونږ ته څرګند کړي مګر دا چې واقعاً هڅه وکړو او زیار وباسو چې هغه زده کړو. مقدس کتاب وائي: "وغواړئ نو دربه کړی شی، ولټوئ نو وبه یې مومئ وټکوئ نو وربه درته بیرته شی" (متی ۷ : ۷).

دا په دې معنی ده چې د خدای کلام باید په ډېر غور سره ولولو. دغه کار هله تر سره کېدای شي چې مونږ خپل ډېر وخت د هغې په مطالعې او زده کړې کښې تېر کړو.

د دی لپاره چې د خدای کلام زمونږ په ژوند کښې بدلون راولي باید نصیحت منوونکی خصلت ځانله غوره کړو. باید دې ته لیواله شو چې د خپل آسمانی پلار لارښودنی قبولې او هغه عملي کړو. مونږ اکثراً دا غواړو چې په خپل ژوند کښې د خپلې خوښې لارې غورې او پر هغې تګ ته دوام ورکړو. داود بادشاه او اشعیاه نبی خپلې اړتیاوې د خدای په مقابل کښې درک کړې وې او دې ته لیواله وو د هغهٔ څخه تعلیم واخلي. "ستا د حکمونو نه مې کله هم مخ ندی اړولی ځکه چې دا هر څه تا زما د تعلیم او ښودنې لپاره تر سره کړیدي. ستا کلام زما لپاره ډېر خوږ دی حتی د خوږو شهدو څخه هم خوږ ښکاري" (زبور ۱۱۹: ۱۰۲ – ۱۰۳).

"خدای ما ته ښودلې ده چې څه ووایم او څرنګه د خپل کلام په وسیله ستړو او ستومانه خلکو ته قوت ورکړم. هغه هر سهار ما ویښوي او زما پوهه روښانه کوي تر څو د هغهٔ په غوښتنو پوهٔ شم" (اشعیا ۵۰ : ۴).

کله چې مونږ نصیحت منونکي یو نو په ډېرې عاجزۍ او خاکسارۍ د خدای کلام ته ورننوځو. ممکن داسې یو وخت راشي چې فکر وکړو چې ګڼې د روحاني له لحاظه ډېر هوښیار

یو، او یا د شخصي قضاوت احساس وکړو. مګر باید مغروره نشو. ځکه هر څه چې یو دا د خدای د کار نتیجه او ثمره ده. د نوې لوظنامې په اول کورنتیان ۱: ۳۰_۳۱ ویل شوي دي چې: "خو تاسو د خدای له خواپه مسیح عیسی سره یووالی لرئ چې زمونږ د پاره د خدای له لوري حکمت ګرځېدلی دی، یعنی صداقت او پاکوالی او فدیه. لکه چې لیکلی دی: «څوک چې فخر کوي هغه د په مالک فخر کوي»."

مونږ هېڅوخت نشو کولائ چې ټول شیان د خدای په کلام کښې درک کړو. مګر د خدای روح مونږ ته الهي حقائق څرګندوي ترڅو خپلو زده کړو ته دوام ورکړو. زمونږ زدکړه به په آسمان کښې هم جاري وي او د خدای کلام به هیڅکله له مینځه لاړ نشي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۹_ د کورنتیانو د اول خط ۲: ۱۰_۱۲ په لوستلو سره د صحیح ځواب مخی ته د (✓) نښه ورکړئ. هغه کسان چې مسیحیان نه دي نشي کولائ په سمه توګه د خدای کلام درک کړي او پرې وپوهیږي ځکه هغوی:

الف) تعلیم منوونکي نه دي.

ب) د خدای روح د ځان سره نه لري.

ج) د حقیقت تږي نه دي.

۱۰_ د غلط عبارت مخې ته د (✕) علامه ورکړئ.
د خدای د کلام د لوستلو په اړه باید زمونږ په ذهني کړنلارې کښې دا لاندیني ټول موارد شامل وي، پرته له......................
الف) د خدای کلام ته لوږه.
ب) تابعداري.
ج) شخصي قضاوت.
د) نظیم او ترتیب.
هـ) تعلیم قبلولو نه.
و) عاجزي او خاکساري.

۱۱_ د خدای د کلام په اړوند درست فکري طرزهغه وخت وده کوي چې:
الف) داسې وګڼو چې ډېر پوه او هوښیار یو.
ب) د خدای د کلام منلو ته خپل زړونه پرانیزو.
ج) ټول شیان زده کړو.

اوس چې وپوهیدئ چې ولې د خدای د کلام لوستلو ته اړتیا لرو او څرنګه باید هغه ولولو، کولائ شئ چې په ډیرې مینې او لېوالتیا سره مقدس کتاب ولولئ.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱–الف

۲_ ب

۳_ ب

۴_ ج

۵_ ج

۶_ نور، او رڼا

۷_ ب

۸_ (الف)، (ج) او (د)

۹_ ب

۱۰_ ج

۱۱_ ب

دویم لوست

# د مقدس کتاب په اړه اساسي اطلاعات

مقدس کتاب یو داسې کتاب دی چې د ټولنې د هرې طبقې پورې تړلي خلک کولائ شي هغه ولولي. ځوان او زوړ، تعلیم یافته او بې تعلیمه، غریب او مالداره ټولو ته د استفادې وړ دی. ځکه دا یو روحاني لاربښود دی چې خلکو ته زده کوي چې څنګه خلاصون تر لاسه کړي او د خپل ژوند لپاره د خدای نقشه درک کړي. مقدس کتاب وائي: "ځکه چې کومې خبرې چې وړاندې په صحیفو کښې ولیکلی شوې، هغه زمونږ د هدایت لپاره دي، د دې د پاره چې د صبر او د مقدس کتاب نه د تسلی امېد ولرو" (ورمیان **۱۵ : ۴**).

په همدې اساس هر سړی کولای شی چې پخپله مقدس کتاب د خپل ځان سره، او خپل ځان لپاره ولولي. حتی که چېرې په پوره توګه د خدای کلام معنی او مفهوم درک هم نه کړو، بیا هم کولائ شو چې د لوستلو څخه یې برکت او تعلیم تر لاسه کړو. د خدای په کلام د پوهیدلو لویه خوشحالي هغه وخت تر لاسه کېدای شي چې په پوره شوق او جذبې سره د هغه

لوستلو ته دوام ورکړو. نو په دې توګه د مقدس کتاب په اړه ځيني بنسټيزو معلوماتو ته اړتيا لرو. په دی لوست کښې به د مقدس کتاب د ليکلو، بنسټيزو زده کړو، د کلام يو والی او تقسيم بندۍ يا محال ويش او داسې نورو مطالبو په اړوند به ځينې شيان زده کړو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د مقدس کتاب ليکونکي
  - الهام
  - اقتدار
- د خدای د کلام خپريدل او لېږدول
- د مقدس کتاب وحدت او يووالی
  - زړه او نوې لوظنامه
  - پرمخ تلونکې مکاشفه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

- په دې پوه شئ چې د خدای کلام څرنګه وليکل شو او مونږ ته ورسيدۀ.
- د مقدس کتاب اصلی موضوع او جوړښت توضيح کړئ.

## د مقدس کتاب لیکونکي

### الهام

شاوخوا څلویښتو تنو لیکوالو د ۱۶۰۰ کلونو په دوران کښې مقدس کتاب ولیکه. د لیکونکو د تعدد او د هغوی د ژوند مختلفو شرائطو ته په کتنې سره د دې خبرې تمه کېږي چې د خدای کلام به د ډیر لږ یووالي څخه برخه مند وي او یا په هغه کښې یووالی او ورته والی اصلاً نشته. مګر داسې نه ده. ځکه مافوق الطبعیت قدرت د خدای د کلام د لیکونکو لارښودنه کوله. مقدس کتاب په ښکاره ډول مونږ ته وایی چې دغه مافوق الطبیعه قدرت په خپله خدای ؤ چې لیکوالو ته به یی الهام ورکاوه ترڅو دهغهٔ مقدس کلام ولیکي. د مقدس کتاب په روایت، د لیکونکو د افکارو د لارښودنې لپاره د خدای د روح واقعي پوکی یادم، الهام نومول شوی دی. مونږ دا موضوع هغه وخت کولای شو چې په آسانۍ سره درک کړو چې په یاد راوړو چې کله خدای انسان د خاورو څخه پیدا کړ نو د هغهٔ په پوزه کښې یې خپل روح پوف کړ او هغه ته یې د ژوند ساه وکړه.

ځیني پوهان په دې عقیده دي چې د خدای کلام یعنی مقدس کتاب په حقایقو سربیره څه غلطي ګانې هم لري. او ځیني نور په دې عقیده دي چې یواځې د مقدس کتاب یوه کوچنۍ برخه د خدای الهام دی او هغه هم له هغې زمانې سره تړاو لري چې خدای له خپلو خلکو سره خبرې کړې دي. تر اوسه

هم ګڼ شمیر خلک په دې باور دي چې د خدای کلام لفظ په لفظ د هغۀ لیکونکو ته ښودل شوي او دیکته شوي دي. مګر د الهام په اړه دغه ټولې عقیدې او ویناوې غلطې او د حقیقت نه لرې دي. مقدس کتاب وائی: "هره صحیفه د خدای د روح د الهام په وسیله ده" (دویم تیموتیوس ۳: ۱۶).

په دویم پطروس ۱: ۲۱ کښې لولو: "ځکه چې د نبیانو د کلام هیڅ خبره هم د بنی آدمو د خواهش په مطابق کله هم نه ده شوی، بلکه بنی آدمو د روح القدس د اثر په وجه د خدای د طرفه خبرې کولې."

که چیرې مونږ د مقدس کتاب هر لفظ حقیقت وبولو نو ټول کلام به د حقیقت په توګه ومنو. او همدارنګه دا هم نشو ویلې چې ګنې د مقدس کتاب لیکونکي د خودکاره ماشینونو په څېر وو او د هر ډول خپلواکۍ او د ټاکنې له آزادۍ څخه محروم وو. که څه هم د هغهو څخه ځینو یې د خپلو لیکونو په معنی او تفسیر د خپل ژوند تر پایه و نه پوهېدل. (په خاصه توګه د هغه وړاندوینو او نبوتونو په اړوند چې تراوسه لانه دي ښکاره شوي). مګر نورو خپل ټول مطالب او لیکنې په خپله مطالعه کړې. هغوی حتی خپلې شخصي تجربې هم ولیکلې، مګر هغه څه چې ټول په هغۀ متفق وو هغه د خدای خاصه مکاشفه وه. پولوس وایي: "یعنې دا چې هغه راز ماته د کشف په وسیله معلوم شو لکه چې ما اول د هغې لږ شان حال لیکلی دی..چې هغه راز په تېرو شوو زمانو کښې بنی آدمو ته دغه شان

معلوم شوی نه وو څنګه چې هغه يې پاکو رسولانو او نبيانو ته د روح القدس په وسيله اوس ښکاره کړی دی“ (افسيان ۳: ۳ او ۵).

روح القدس زمونږ په زړونو کښې دا ګواهي ورکوي چې د خدای کلام حقيقت دی.

## اقتدار

د مقدس کتاب الفاظ، لکه څنګه چې ليکونکو په ابتدا کښې هغه ليکلي وو، د خدای د مقصد د بيانولو لپاره په زړه پورې او بهترين الفاظ دي. په دې خاطر چې دا د خدای الهام دی کولای شو چې پرې باور وکړو. د خدای کلام هيڅکله له منځه نه ځي او هميشه حقيقت لري. مقدس کتاب په خپل ذات کښې بشپړ او کامل دی او بل هيڅ شي ته اړتيا نه لري. هيڅ شی نه شي کيدای پرې اضافه شي او يا ترې کم شي.

له دې کبله چې د خدای کلام حقيقي، بشپړ او الهي الهام دی، د مقدس کتاب پوهان د ((الهي کلام د واک او قدرت)) په هکله خبرې کوي. حتی د خلکو هغه لويې ډلې چې د عيسی خبرو ته به يې غوږ نيوه، دغه الهی مسح به يې د هغه په کلام کښې ليدله. هغو به ويل: ”ځکه چې هغه (عيسی) د هغوی د استاذانو په شان نه، بلکه د اختيار د خاوند په شان يې تعليم ورکولو“ (متی ۷ : ۲۹).

اقتدار درې اصلي معناوې لري چې عبارت دی له قطعي حقیقت، رسمي بیان یا قانون او هغه طاقت چې د فرمانونو د نافذولو قدرت ولري چې په مقدس کتاب کښې دغه درې واړه معناوې لیدل کېږي. مقدس کتاب د خدای په هکله حقیقت څرګندوي. او دا کتاب د ټول بشریت د خلاصون لپاره رسمی پلان او نقشه ده. همدا شان کله چې خلک د مقدس کتاب د فرمانونو او حکمونو څخه تابعداري کوي هغه په خپل قدرت سره د هغوی ژوندون ته بدلون ورکوي. کله چې مونږ د خدای د کلام په قدرت او اقتدار پوه شو، کولائ شو چې هغه ښه درک او پرې وپوهېږو. نور به نه وایو چې مقدس کتاب فقط د خدای کلام دی او بیا هغه هېر کړو او شاته یې وغورځوو. بلکه هغه ته د خدای د ریښتونی او ژوندی کلام په سترګه ګورو چې کولای شی زمونږ په ژوندون کښې بدلون راولي. او د هغی د لار ښوونو په پوهیدلو سره بې د کوم شک څخه هغه قبلوو.

پولوس ډېر شکرګزار ؤ ځکه چې د تسالونیکیانو کلیسا د خدای کلام قبول کړی وو. هغهٔ وویل: "د دې د پاره مونږ هم هر وخت د خدای شکر کوو چې هر کله د خدای پیغام زمونږ په معرفت تاسو ته درورسېدو نو تاسو هغه د بني آدمو د کلام په شان نه، بلکه څنګه چې حقیقت کښې دی، د خدای کلام مو وګڼلو او قبول مو کړو، او په تاسو کښې چا چې ایمان راوړو، په هغوی کښې یې تاثیر هم وکړلو" (اول تسالونیکیان ۲: ۱۳).

مونږ کولای شو چې د خدای د کلام په اقتدار او اختیاراتو متکي واوسو. کولای شو چې دا باور تر لاسه کړو چې د خدای ټولې وعدې حقیقت لري. کولائ شو چې د خدای په وعدو پوره ایمان ولرو او هغه په خپل ژوند کښې پلې کړو او خوښي او ارامتیا تر لاسه کړو. د خدای له کلام څخه پوره اطاعت وکړو. د خدای د کلام د مطالعې پر محال زمونږ رابطه په مستقیمه توګه د خدای سره ټینګیږي او هغه د خپل کلام په ذریعه زمونږ سره خبرې کوي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

لاندې جملې بشپړ کړئ.

۱– د مقدس کتاب د پوهیدلو لپاره باید په دې پوه شو چې د خدای کلام د ...... پر اساس لیکل شوی دی.

۲– ځکه چې د خدای کلام حقیقت دی او په پوره........سره خبرې کوي.

لاندیني سوالونه کېدای شي د یو څخه زیات ځوابونه ولري.

**۳**– مونږ دا حقیقت چې د خدای کلام یو الهي الهام دی .......... درک کوو.

الف) په خپله د مقدس کتاب د الفاظو له لیارې.

ب) د هغې د ادبی ځانګړتیاو له لیارې.

ج) د روح القدس د کار له لیارې.

۴- د خدای د کلام اقتدار ............... لیدل کیږی.

الف) د هغې په بې پایه حقیقت کښې.

ب) د هغی په بدلوونکي قدرت کښې.

ج) په سلګونو تفسیري کتابونو کښې.

خپل ځوابونه د لوست له آخرې برخې سره پرتله کړئ.

## د خدای د کلام خپرېدل او لېږدول

د اوږدې مودې لپاره د خدای له لورې انسان ته لیکل شوې مکاشفه موجوده نه وه. مګر خدای به د خلکو سره خبرې کولې او په ورځني ژوند کښې به یی د هغوی لارښوونه کوله. د خدای کلام به مستقیمه توګه د خلکو سره خبرې اترې کولې. د مثال په توګه ابراهیم ته خدای خپل کلام په واسطه اواز وکړو او هغه ته یې وویل چې د هغه او د هغه د نسل (د یهودو ملت) له لارې به ټولې نړۍ ته برکت ورکړي او د هغوی د منځ نه به داسې کسان غوره کړي چې د هغه مکاشفه ولیکي. مونږ به دا روښانه کړو چې مقدس کتاب څرنګه ولیکل شو او مونږ ته راورسیدۀ. خدای موسی ته دا الهام ورکړو چې یو مکاشفه ولیکي چې په هغی کښې د ځمکې پیدایښت، د خدای قوانین، وعدې او نبوتونه خلکو ته بیان کړي. موسی دغه کتابونه ولیکل چې د هغی نه وروسته د خدای سپېڅلو بندګانو په هغې باندې ځینې نور معلومات او مطالب زیات کړل. لیکونکو د مقدس کتاب

صحیفې په تیرو، خټینو لوحو، پوستکو او طومارونو (ملاتفو) کښې ولیکل. اوس هغه زمونږ سره نشته. خدای کولای شول چې دا شیان وساتي. مګر که چېرې دغه کار یې کړی وای، نو ښایي خلکو به د خدای پر ځای د دغه لوحو او طومارونو عبادت کړی وای. مونږ باید یوازې د خدای عبادت وکړو نه د هغه ځایونو او شیانو، چې خدای مونږ ته رایادوي. په همدی اساس خدای پوهو او صادقو کسانو ته لارښوونه وکړه چې د مقدس کتاب له مخې نورې نسخې ولیکي، یعنې هغه کاپی او خپور کړي. نن ورځ ډېرې دغه لاس لیکنې او قلمي نسخې زمونږ په اختیار کښې دي چې د نړۍ په موزیمونو او کتابخانو کښې د هغو ساتنه کېږي. د کلونو په تېرېدو سره د مقدس کتاب برخې د (دکتابونو د مجموعې) په نوم ونومول شوې. د مقدس کتاب لفظ د یونانی کلیمې (Biblia) څخه اخیستل شوی چې د کتاب په معنی ده. بیا وروسته مقدس کتاب (د یو کتاب) په څیر وپېژندل شو چې د یونانی ژبی سره یې تړاو درلود. په دې توګه د (مقدس کتاب) نوم د ٦٦ کتابونو لپاره ډېر مناسب او پر ځای نوم دی.

د مقدس کتاب عالمانو او ښوونکو د مقدس کتاب د څېړنې او مطالعې څخه پس هغه یې د الهي الهام په توګه ومنلو. په حقیقت کښې په مقدس کتاب کښې شامل کتابونه د کانون (the canon) په نوم هم نومول شوي دي. د کانون کلمه د

هغه افزار او سامان په معنی ده چې مستقیم خطونه او کرښې جوړوي. او یا په سمه توګه اندازه ګیري کوي.

د پخوانۍ زمانې نورې تاریخي لیکنې او نسخې هم شته چې د خدای په هکله دي مګر هغه الهی الهام نه دي او د مکاشفې حثیت نه لري. خدای زمونږ څخه غواړي چې د هغه پیغام درک کړو او ځان پری پوه کړو. په همدې خاطر لیکونکو زړه لوظنامه په عبراني ژبې ولیکله ترڅو یهودان د خدای پیغام درک او ځان پرې پوه کړي.

د نوې لوظنامې لیکونکو د یوناني ژبې څخه په استفادې سره چې د مسیح په دوران کښې د خلکو رایجه ژبه وه، دا کتاب ولیکلو. نن ورځ په نړۍ کښې ډېر کم خلک په یوناني او عبراني ژبو پوهېږي. مګر د خدای سپیځلو خلکو مقدس کتاب د ۱۳۰۰ نه په زیاتو ژبو باندې ترجمه کړی دی. په ځینې ژبو کښې ترڅو بېلابېلې ترجمې موجودې دي تر څو ټول خلک وکولای شی د مقدس کتاب پیغام درک کړي. دا طبعي خبره ده چې په بېلابېلو ترجمو کښې به مختلف لفظونه کارول شوی وي، خو سره ددې هم پیغام یو دی او په هغۀ کښې فرق نشته.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

د صحيح عبارت مخې ته د (✓) نښه ورکړئ.

**۵**_ په نننۍ ژبې کښې د (مقدس کتاب) د کلمې معنی .......... دی.

الف) کتاب

ب) يوناني کتابونه

۶_ مقدس کتاب په ۱۳۰۰ ..........................................

الف) کتابونو ترجمه شوی دی.

ب) ژبو ترجمه شوی دی.

۷_ د مقدس کتاب برخې يا کتابونه د (کانون) په نامه ځکه يادېږی چې ..........................................

الف) هغه مو د خدای د الهامي کلام په توګه قبلول کړی دی.

ب) ٦٦ کسانو هغه ليکلی دی.

۸_ مقدس کتاب نن ورځ مونږ ته ځکه رسېدلی دی چې ..........................................

الف) هغه يې د کاڼو پر مخ ليکلي وو.

ب) خدای د هوښيارو او پوهو کسانو لارښودنه وکړه ترڅو هغه د اصلی لوحونو له مخې وليکي او کاپي کړي.

ج) خدای هغه ختمینی لوحې او طومارونه خوندي وساتل.

## د مقدس کتاب وحدت او یووالی

### زړه او نوې لوظنامه

د مقدس کتاب ٦٦ کتابونه په دوو برخو ویشل شوي دي. زړه لوظنامه او نوې لوظنامه.

زړې لوظنامې کښې ۳۹ او نوې لوظنامې کښې ۲۷ کتابونه شامل دي. د دې وېش سره سره دا دواړه کتابونه یو دي چې د یوۀ تاریخ او یو داستان څخه بحث کوي.

په مقدس کتاب کښې شامل د هر کتاب اصلی موضوع د انسان د ژغورنې لپاره د خدای پلان او نقشه ده. زړه لوظنامه د نوې لوظنامې د پېښنو وړاندوینې (پېش ګویي) کوي. او نوې لوظنامه د زړې لوظنامې وضاحت کوي او هغه د کمال حد ته رسوي. چې په همدې اساس دا دواړه کتابونه یو د بله سره په پوره یووالي او اتحاد کښې دي، ځکه دواړه د روح القدس تر الهام او لارښونې لاندې لیکل شوي دي. د دواړو لوظنامو مرکزي شخصیت مسیح دی او هر کتاب هغه په خاصه توګه مونږ ته راپېژني. د مثال په توګه د پیدا ایښت کتاب مسیح د نړۍ د پیدا کوونکي په صفت، د خروج کتاب هغه د ژغورونکي په صفت، د سموئیل، پادشاهانو او تواریخ کتابونه

هغه د پادشاه په صفت او د اشعیا نبی کتاب هغه د مسیح موعود (وعده شوی مسیح) په صفت معرفي کوي. همدارنګه انجیلونه مسیح د خدای د خادم، د انسان زوی، وعده شوی مسیح او د خدای د زوی په صفت راپېژني. د خدای د کلام د لوستلو پر وخت دې ټکي ته پوره غور وکړئ چې مسیح مونږ ته په کوم عنوان سره پېژندل کېږي.

د لوظ کلمه د وعدې او ژمنې په معنی ده او زړه لوظنامه مونږ ته د عیسی مسیح د راتلو څخه مخکې د انسان د ژغورنې په اړوند د خدای وعدې او ژمنې بیانوي چې دا د هغو حکمونو پر بنسټ ولاړ ؤ چې خدای موسی ته د شریعت په نامه ورکړي ؤ. نوې لوظنامه د هغې وعدې او ژمنې بیانوونکي ده چې خدای د مسیح د راتلو نه وروسته انسان ته ښکاره کوي چې د هغې بنیاد او بنسټ د خدای فیض او برکت او هغه بې پایه مینه ده چې خدای یې له انسانه سره لري. خدای خپل یوائینی زوی راولېږه ترڅو مړ شی او د مړو څخه بېرته ژوندی شي ترڅو مونږ د خلاصون سوغات ترلاسه کړو. زړه لوظنامه د مسیح د راتګ وړاندوینه کوي. او د زړې وعدې کمزورتیا مونږ ته بیانوي. دا وعده په یو خاص وخت کښې د یو خاص قوم (یهودو) سره شوې وه چې ډیره لنډه او محدوده وه او خلکو ته لاژمی وه چې هر کال د خپلو د ګناهونو د بخښنی لپاره د فدیې په توګه حیوانات قرباني کړي او په دې توګه د خپلو ګناهونو تاوان او بدله ادا کړي (عبرانیان ۱۰: ۴–۷ ، ۱۰او۱۴ ولولئ).

# عیسی مسیح په کتاب مقدس کښې

| | |
|---|---|
| **زړه لوظنامه** | **نوې لوظنامه** |
| پیدایښت | متی |
| خالق | مسیح |
| خروج | مرقوس |
| ژغورونکی | د خدای خادم |
| سموئیل، پادشاهان، تواریخ | لوقا |
| پادشاه | د انسان زوی |
| اشعیا | یوحنا |
| وعده شوې مسیح | د خدای زوی |

نوې لوظنامه د مسیح د راتلو په هکله خبرې کوي او د زړې لوظنامې پېش ګویي ګانې پوره او رښتیا کوي. "خو هر کله چې نیته پوره شوه نو خدای خپل زوی راولیږه.." (ګلتیان ۴: ۴).

نوې وعدې به د همیشه لپاره دوام ولري (عبرانیان ۷: ۲۴ او ۲۸). دا وعدې به د ټولو قومونو او ملتونو لپاره وي (اعمال ۱۰: ۳۴). او د ټولو انسانانو د ګناهونو بدله او تاوان به ورکوي. یوائینی کار چې مونږ باید ترسره کړو، د دې ډالۍ او سوغات قبلول دی یعنی د هغهٔ د یوازیني زوی منل او په هغهٔ د خپل ژغورونکي په صفت ایمان راوړل دی.

لاندینی جدول مونږ ته د مقدس کتاب د کتابونو وېشنه او تقسیم بندي ښیي.

## زړه لوظنامه

| | | |
|---|---|---|
| شریعت | پیدا ېښت نه تر تثنیې | ۵ کتابونه |
| تاریخ | یوشع نه تر استر | ۱۲ کتابونه |
| شعر | ایوب نه تر غزلونو | ۵ کتابونه |
| نبوت | | |
| - لوی نبیان | اشعیا نه تر دانیال | ۵ کتابونه |
| - کوچنی نبیان | هوشیع نه تر ملاکی | ۱۲ کتابونه |

## نوې لوظنامه

| | | |
|---|---|---|
| انجیلونه | متی نه تر یوحنا | ۴ کتابونه |
| تاریخ | اعمال د رسولانو | ۱ کتاب |
| رسالې او خطونه | | |
| - پولوس | رومیانو نه تر فیلیمون | ۱۳ کتابونه |
| - عمومی | عبرانیانو نه تر یهوداه | ۸ کتابونه |
| نبوت | مکاشفه | ۱ کتاب |

## پرمختلونکې مکاشفه

مقدس کتاب د پیدایښت د کتاب څخه پیلېږي چې په هغې کښې د دنیا د پیدایښت او د انسان د خلقت په هکله خبرې شوي دي، او د مکاشفې په کتاب سره پای ته رسېږي چې د ځمکې پرمخ د ژوند د پای ته رسېدو بیان پکې شوی دی. د دې دوو کتابونو په ترڅ کښې مونږ د هغو کړوړو داستان لولو چې خدای د انسان د ژغورنې لپاره تر سره کړي دي ترڅو هغه په آسمان کښې د ابدي ژوندون خوشحالي ترلاسه کړي. کله چې آدم او حوا د خدای نافرمانی وکړه هغوی په ګناه ککړ شول او د روحانی لحاظه د خدای څخه جلا شول. خو خدای هغوی سره لاهم مینه کوله او د هغوی د روحاني رغونې لپاره یې یوه طرحه او نقشه جوړه کړه. مودې تیرې شوې ترڅو انسان د خدای د پوره مکاشفې منلو ته چمتو شي او روحاني شفا حاصله کړي.

عبرانیان ۱: ۱_۲ مونږ ته وائي: "په تیره زمانه کښې خدای زمونږ د پلارانو نیکونو سره ډیر ځله په مختلفو طریقو سره د نبیانو په معرفت خبرې وکړلې. خو په دې آخره زمانه کښې یې مونږ سره د خپل زوی په معرفت کلام وکړو چې هغه یې د ټولو څیزونو وارث وګرزولو او د هغه په وسیله یې هم ټول کائنات پیدا کړل."

نن ورځ مونږ د عیسی مسیح له طریقه چې د خدای ژوندی کلام دی یوه کامله مکاشفه لرو. هغه خلکو چې د زړې لوظنامې په دور کښې یې ژوند کاوه د داسې یو درک د درلودلو څخه بې برخې وو. هغوی فقط د مکاشفې یوه برخه په خپل واک کښې درلوده. د وخت په تیریدو سره خدای د خپل د حقیقت زیات نه زیات رازونه مونږ ته څرګند کړل. خدای مونږ ته د هر لفظ او کلیمې تعلیم او لارښوونه راکړه (اشعیا ۲۸: ۱۰). او مونږ دې ته پرمختلونکې مکاشفه وایو. خدای د پخوانۍ زمانې د خلکو سره زمونږ په شان سلوک و نه کړ. د نوې لوظنامې تعلیمات چې د طلاق او د یوې نه زیاتو ښځو د نکاح په خلاف دی ممکن د زړې لوظنامې د قصو او داستانونو سره په تضاد کښې وي، لیکن عیسی واضح کړه چې خدای د خلکو سره په تیرو زمانو کښې متفاوته رویه او سلوک اختیار کړی ؤ ځکه هغوی د ټېټې پوهې او درک خاوندان وو.

هغه حقایق چې هغوی ته څرګند شوي وو زمونږ په پرتله ډېر کم وو (متی ۱۹: ۳-۹). مونږ د ډېرو زیاتو حقایقو څخه برخه مند یو ځکه عیسی راغی ترڅو مونږ ته لاره وښیي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۹_ د صحیح جملې مخې ته د (✓) علامه کېږدئ.

الف) د مقدس کتاب اصلی موضوع د دنیا پیدا یښت دی.

ب) زړه او نوې لوظنامه په خپل وار سره انسان ته د خدای نوې او زړه وعده او لوظ بیانوي.

ج) زړه او نوې لوظنامه دواړه د انسان لپاره د خدای پلان او نقشه څرګندوي.

د) د مقدس کتاب د هرې برخې پیغام د متفاوتو شخصیتونو سره په تړاو کښې دی.

۱۰_ د پرمختللې مکاشفې ډیر ښه تعریف عبارت دی ..........

الف) د یوې ډلې خلکو لپاره د خدای مکاشفه.

ب) دا چې خلک د پیل نه تر پایه پورې د خدای د مکاشفې په هکله له نورو سره خبرې وکړي.

ج) دا چې خدای خپل حقیقت د هرې زمانې په تېرېدو سره، لږ لږ څرګند کړی دی.

۱۱_ هغه جملې په نښه کړئ چې د مقدس کتاب د زړې او نوې لوظنامې د یووالي اظهار کوي.

الف) دا دواړه کتابونه پر طومارونو باندې لیکل شوې وې.

ب) زړې لوظنامې د هغه ځه پېشګوي کوله کوم چې په نوې لوظنامې کښې پېښېدونکې وه.

ج) د دواړو لوظنامو مرکزي شخصیت مسیح دی.

د) خدای د زړې لوظنامې د دورې له خلکو سره هسې سلوک وکړ چې د نوې لوظنامې د دورې له خلکو سره یې کوي.

هـ) نوې لوظنامه د زړې لوظنامې د حقیقتونو ښکار- ندوی ده.

د ټول مقدس کتاب لوستل به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو په دې وپوهېږئ چې هغه څهٔ چې بی ایمانان یی د مقدس کتاب د تناقص او اختلاف په هکله وایې هغه غلط او بې بنیاده دي، او د خدای کلام د پوره اتحاد او یووالي درلودونکی دی.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ الهام

۲_ اقتدار

۳_ الف او ج

۴_ الف او ب

۵_ الف

۶_ ب

۷_ الف

۸_ ب

۹_ الف) غلط

درست

درست

غلط

۱۰_ ج

۱۱_ ب، ج او هـ

دریم لوست

# مقدس کتاب، یو ادبي کتاب

کله چې چا سره خبرې کوئ ستاسو مقصد دا دی چې هغه ستاسو په خبرو پوه شي. نو په همدې خاطر خپلې خبرې او خيالونه په داسې انداز سره څرګندوئ چې هغۀ ته روښانه او واضيح وي. په بل عبارت! هغه څه چې وائئ او د هغې بيان او څرنګوالی له يو بل سره لازم او ملزوم وي. لکه د خبرې کولو په څېر ادبيات او حسن بيان هم د يو مطلب د څرګندولو لپاره لازمي وي خو په دې شرط چې ليکونکی خپل عقايد په څرګند ډول بيان کړي. د مقدس کتاب ليکونکو خپل الفاظ په داسې طرز سره غوره کړي وو چې د هغوی د اهدافو سره برابر وو. د دې مطلب پوهيدل چې د مقدس کتاب ليکونکو په کوم ډول د خپلو عقايدو بيان کاوه، تاسو سره مرسته کوی ترڅو مقدس کتاب په درسته توګه ولولئ او د دی آيت معنی په ښه توګه درک کړئ چې عيسی مسيح وائي: «زه د انګورو تاک يم او تاسو د هغۀ څانګې ياست». او تاسو به قادر شئ چې د مقدس کتاب نه د يو اصلي متن مفهوم په ښه توګه درک کړئ او پرې پوه شئ. د ليکنې د طرز او د هغه د بياني لار دود په پوهيدلو سره به د ليکونکي مقصد په ښه توګه درک کړئ.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- تحت اللفظي او مجازي ژبه
- د عقايدو ترتيب او تنظيم
- د ليکولو طريقې او لاردودونه

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

د هغو ځانګړو ژبو په معنی او مفهوم پوه شئ چې په مقدس کتاب کښې کارول شوي دي.
د مقدس کتاب اصلي عقايد او موضوع ګانې په ډاګه کړئ.
د ليکوال هدف او مقصد د هغهٔ د ليک دود له مخې درک کړئ.

## تحت اللفظي او مجازي ژبه

خدای غواړي چې مونږ هغه حقيقت درک کړو چې د خپل کلام له لارې يې ښکاره کړی دی. د خدای د کتاب ليکونکو د غير واقعي مسايلو په اړه څه نه دي ليکلي. هغوی حقيقت ليکلی دی او زياتره يې د تحت اللفظي يا واقعي ژبې څخه کار اخستی دی. له دې کبله د دغو ساده کلمو او الفاظو په کاراخيستو سره کولای شو د مقدس کتاب په مفهوم او معنی باندې پوه شو. د بېلګې په توګه کله چې په نوی لوظنامې کښې

لولو چې: "عیسی غرونو ته لاړ چې دعا وکړي" (لوقا ۶: ۱۲). نو مونږ پوهیږو چې عیسی په حقیقت کښې په عملي توګه دغه کار سرته رسولی دی. او یا کله چې لولو، "عیسی تبې ته حکم وکړو چې سړی پریږده او ترې بهر شه! نو تبې سمدستي هغه پرېښود" (لوقا ۴ : ۳۹). نو پوهیږو چې دا یو منلی شوی حقیقت دی او په عملی توګه پیښ شوی دی.

مګر کله چې داسې یو متن لولو چې: "بله ورځ یحیی ولیدل چې عیسی هغه طرف ته راځي. هغهٔ وویل چې « وګورئ د خدای ګډوری چې د دنیا ګناه په ځان وړي»" (یوحنا ۱: ۲۹). دلته مونږ نشو کولای چې ټولې کلمې په تحت اللفظي توګه تفسیر کړو. عیسی کوم څاروی یا ګډوری (وری) نه ؤ، بلکه هغه د هغې ګډوري یا وري په څېر ؤ چې د زړې لوظنامې په دور کښې به د خلکو د ګناهونو د کفارې لپاره حلالېدهٔ. بناً په مقدس کتاب کښې داسې الفاظ او عبارتونه موجود دي چې مجازي یا سمبولیکې معناوې لري چې د یو لفظي حقیقت د بیان لپاره ترې کار اخستل کیږي. مجازي ژبه د علم بدیع د ښکلاګانو او صنائعو څخه رنګ او شکل اخلي او مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه عبارتونه او لفظونه چې د هغو درک او پوهېدل مونږ ته مشکل دی، په هغه تصویری بڼه بیان کړو چې مونږ ورسره آشنا یو. یحیی خپل ذهنی تصویر د عیسی مسیح په هکله د یو داسې وري یا ګډوري په توګه بیانوي چې په مذبح (د قربانۍ ځای) کښې زمونږ د ګناهونو لپاره قرباني کیږي.

داسی یوه بیاني طریقه مونږ سره مرسته کوي ترڅو نړی، ته د مسیح د راتګ هدف درک او پرې پوه شو.

د بدیع صنعت مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه روحاني حقیقتونه درک کړو چې په خپلو سترګو د هغې د لیدلو وس نه لرو. په یاد مو دي چې په لومړي لوست کښې مو ولوستل چې عیسی خپل ځان د ژوندون د چینی یا آب حیات سره ورته کړی دی. هغهٔ همداشان خپل ځان د ډوډی، رڼا او شپونکی سره هم ورته کړی دی او په یو ځای کښې یی ویلي دي چې: "ګورئ، د غل په شان درځم.." (مکاشفات ۱۲: ۱۵).

په ټولو دغو مثالونو کښې مونږ نشو کولای چې د نوموړو شیانو سره د مسیح په پرتله کولو کښې، د ټاکلي حد څخه زیاتی وکړو. هغه تر یوهٔ حده پورې د دې مثالونو سره مشابهت او ورتوالی لري. مګر د بدیع صنعت مونږ سره مرسته کوي چې منل شوي حقیقتونو په یاد راوړو. عیسی اکثراً د خپلو شاګردانو او پیروانو سره د خبرو پر محال د مجازي ژبې څخه استفاده کوله، او د ساده قصو او داستانونو په بیانولو سره به یې هغوی سره مرسته کوله ترڅو مهم روحانی حقیقتونه درک کړي. د متی ۸: ۱۰_۱۴ په انجیل کښې عیسی د ورک شوي پسه (ګډ) قصه بیانوي. هغه خپل ځان د شپون سره ورته کوي او مونږ ته دا زده کوي چې لکه څنګه چې یو شپون د خپل وروک شوي پسهٔ په لټه کښې سرګردانه ګرځي، مسیح هم مونږ پسې لالهانده او سرګردانه ګرځي ترڅو مونږ پیدا او ځانله راوبولي. د

بديع د صنعت ځينې برخې د سمبول په نامه يادېږي. سمبولونه هغه الفاظ دي چې د حقيقت تعريف کوي. نور، مالګه او ګډوري يا وری هغه کلمې دي چې مسيحيان يې د سمبولونو په توګه کاروي. مونږ د دې پورتنيو شيانو په شان يو. حتی ځيزونه هم کېدای شي چې د سمبول په بڼه وکارول شي. د خدای په غوره مابنام کښې ډوډۍ او پياله د عيسی مسيح د بدن او وينو سمبول دی او مونږ ته د عيسی مسيح کړاو او مرګ رايادوي چې زمونږ د ژغورنې لپاره يې کښلی ؤ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱ـ په لاندی عبارتونو کښې کوم يو تحت اللفظي معنی او کوم يو مجازي معنی لري. د ځواب نه مخکې د لوست آخري برخې ته يوه کتنه وکړئ.

الف) د ګډو د دروازې تر څنګ په اورشليم کښې يو ډنډ دی (يوحنا ۵ : ۲).

ب) وګورئ دا دی د خدای ګډوری (يوحنا ۱ : ۲۹).

ج) زه د ګډو د شپول دروازه يم (يوحنا ۱۰ : ۷).

د) زما نورې ګډې هم شته چې هغه د دې
شپول نه دي خو د هغوی راوستل
ضروري دي (یوحنا ۱۰: ۱۲).

۲_ د متی په انجیل ۱۳: ۲۴ _ ۳۰ د جمدرو (بې کاره وابښو) او غنمو قصه ولولئ او د هغې تفصیل په ۳۶_۴۳ کښې هم مطالعه کړئ. هغې ته په پاملرنې سره دا لاندیني دواړه ستونونه د یو بل سره تطبیق کړئ.

| | |
|---|---|
| الف) بزګر یا دهقان | ۱- د خدای له پادشاهی سره متع |
| ب) دښمن | ۲- د انسان زوی |
| ج) ښه تخم | ۳- شیطان |
| د) جمدر (بی فایدې ګیاه) | ۴- د شیطان پیروان |
| ه) غنم او جمدر یو د بله سره کډ | ۵- د نړۍ پای |
| ر) جمدر راټولوي | ۶- د آسمان پادشاهي |
| و) غنم | ۷- نړۍ هسې چې ده |

## د عقایدو ترتیب او تنظیم

د لیکلو پر وخت، تل هڅه کوو چې خپل عقاید په پوره توګه منظم کړو او د اړوندو مطالبو په یوځای کولو سره کوشش کوو چې لوستونکو ته د لیکنې اصلي موضوع په ښه او روښانه توګه څرګند کړو. زیار باسو چې خپلې نظریې په داسې انداز سره بیان کړو چې د یو بل مکمل یا بشپړ کوونکي وي. په دې اړه ځیني هغه لاردونه تر غور لاندې نیسو چې لیکوالان د هغې

نه په کار اخیستلو سره غواړي خپلې نظریې او عقاید سره ترتیب او تنظیم کړي.

۱ـ تکرار:- لیکوال د یوې یا څو ورته (مشابه) کلمو څخه په مسلسله توګه استفاده کوي. په دویم کورنتیانو ۸: ۱ـ۱۵ کښې مسیحی ورکړه یا بخشش د تکرار د لارې څېړل شوې او پراختیا مومي لکه ((ورکول، ورکړه، د خدای د قوم سره مرسته، سربښندنه، سخاوت، په پاکه مینه خدمت، د مرستې کولو لیوالتیا ، ځان عاجزول، د کار پای ته رسول، د ډالۍ او سوغات د ورکولو لیوالتیا او مرسته)).

۲ـ پرمختګ:- لیکوال ورو ورو د یو موضوع د زیاتو جزئیاتو په زیاتولو سره یو پرمختلونکی حرکت منځ ته راوړي. دا هغه تګ لاره ده چې مونږ یې په یوۀ داستان په بیانولو کښې کاروو. په اعمال د رسولانو ۸ :۲۲-۴۰ کښې د فیلیپوس داستان، دغه پرمختګ مونږ ته راښیي. د خدای روح د فیلیپوس سره خبرې وکړې چې په یو خاص سفر رهي شي او د یو خاص سړي سره د عیسی مسیح د انجیل په هکله خبرې وکړي. وروسته له دې چې هغه سړي په مسیح ایمان راوړو او فیلیپوس ورته تعمید ورکړو، د خدای روح فیلیپوس د هغه ځایه څخه یووړ.

۳ـ اوج یا عروج:- د جزئیاتو په بیانولو سره لیکوال غواړي چې خپل لوستونکی د تفکر لوړې کچې ته هدایت کړي

او د اوج یا عروج ټکي ته يې ورسوي. د فیلیپیان ۳ : ۱۰ په خط کښې پولوس حقیقی عادالت په دې ډول بیانوي: "چې زه د مسیح او د هغه د ژوندي کیدلو قدرت وپیژنم، او د هغه سره په زغمونو کښې شریک شم او د هغه په مرګ کښې د هغه په شان شم." د ۱ – ۹ آیتونه مونږ داسې یوې نتیجه ګیرۍ او د عروج ټکي ته لیږدوي.

۴_ تضاد او پرتله کول:- د فرق او تضاد د ښودلو لپاره لیکوال دوه موضوعګانې بیانوي چې د هغې په ښه والي او بدوالي یا رڼاوالي او تیاره والي باندې ټینګار وکړي. په لومړي زبور کښې د عادلانو او شریرانو تضاد ګورو. عادلان لکه د کرل شوو ونو په څیر دي چې میوه نیسي په داسی حال کښې چې شریران د هغو بوسو په شان دي چې په شاخۍ باندې باد پړې او باد يې هرې خوا ته خوروي. په دې تضاد کښې قیاس هم لیدلی شئ: ((شریران.. لکه د بوسو په شان دي)). په دې قیاس کښې لیکوال د هغو د مشابهت یا ورته والي د ښوولو لپاره دوه موضوعګانې بیانوي.

۵_ اصلی ټکي:- لیکوال د خپلو عقایدو په بیان کښې د عطف د ټکو څخه کار اخلي. دا ټکي په داستان کښې د خاصې نتیجې په لاس ته راوړلو او په یو داستان کښې یا د متن د معنی په درک کولو کښې ضروري دي. د استر په کتاب کښې د داستان اصلی ټکی هغه وخت لیدل کیږي چې استر د پادشاه د

بلنې څخه بغير د هغهٔ دربار ته ځي او د هغې هيله منل کيږي. د پادشاه د مهربانۍ څخه بغير، استر نشو کولای چې خپل خلک د مرګ څخه وژغوري او د هغو د ځانونو حفاظت وکړي.

۲ـ دلايل او پايلې (نتيجې):- ليکوال خپل عقايد او نظريې په داسې ډول تنظيموي چې د دلائلو په وړاندې کولو سره يوه خاصه نتيجه لاس ته راوړي. کېدای شي چې په پېل کښې هم دلايل او نتجې څرګندې کړي. د کولوسيانو ۱: ۳ په خط کښې پولوس کليسا ته وائي چې د هغوی په خاطر د خدای شکر ادا کوي. چې دا يوه نتيجه ده. په څلورم آيت کښې د دې کار دليل بيانوي او وائي: "ځکه چې مونږ اوريدلي دي چې ستاسو په عيسی مسيح ايمان دی او د ټولو پاکانو سره مينه کوئ." دغه مطلب يوځل بيا په اتم او نهم آيت کښې تکراروي. دا ځل خپل دليلونه وړاندې کوي او وروسته د هغو نتيجه ګېري کوي.

کله کله دغه لاردودونه له يوبل سره ترکيب کېږي ترڅو زمونږ عقايدو ته بڼه ورکړي. په اول کورنتيان ۱: ۳، ۴، ۸ او ۹ کښې پولوس د دلائلو، نتيجه اخستلو او تکرار څخه استفاده کوي ترڅو خپل مطلب په روښانه ډول مونږ ته بيان کړي.

**هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ**

۳ـ لاندینۍ دوه برخې د مقدس کتاب د بیلابیلو برخو په لوستلو سره او د لیکوال د لار دود په ښودلو سره چې د خپلو عقایدو او مفکورو د تنظیم لپاره یې کاروي، یو د بل سره پرتله او تطبیق کړئ.

الف) ګلیتیان ۲: ۷ـ۹ هغه څه چې کړو هغه به ریبو.

ب) افسیان ۲: ۱۴ـ۱۸ مسیح د یهودیانو او نورو قومونو ترمنځ امن راولي.

ج) اول پادشاهان ۱۷: ۸ـ۲۴د ایلیا فرمانبرداري ددې سبب شو چې هغه د خدای سپېڅلی سړی شي.

د) قاضیان ۲: ۴ـ۱۱ د خدای بلنې ته د جدعون غبرګون د سوالونو سبب شو.

هـ) دویم تواریخ ۱: ۷ـ۱۲ کله به چې سلیمان یو کار کاوه خدای به هم ورسره کار کاوه.

و) افسیان ۴: ۱۷ـ۳۲ په مسیح کښې نوی ژوندون څه نتایج له ځانه سره لري.

۱

-

ت

ک

ر
ا
ر
۲
-
دلائل
او
نتائ
ج
۳
-
تضا
د
۴
-
پرمخ
تګ
۵
-
اصل
ی
تکي

## د لیکلو طریقې او لاردودونه

### تاریخ

مقدس کتاب د انسان سره د خدای د کړو وړو تاریخ دی. نو په همدې اساس یو لیکل شوی داستان دی او هغه حوادث بیانوي چې د خاصو خلکو په ژوند کښې پېښ شوي دي.

روح القدس د مقدس کتاب لیکونکو ته لارښوونه وکړه ترڅو خاص کسان او خاصې پېښې غوره کړي او مونږ ته یې بیان کړي. د هغې په مطالعې سره مونږ کولای شو چې د خدای سره خپلې اړیکې غښتلې کړو او د هغو کسانو د کوششونو او بریالیتوبونو پر اساس چې په مقدس کتاب کښې د هغو یادونه شوې ده، د خپل ایمان بنسټ او بنیاد ټینګ کړو. د بیلګې په توګه کله چې د خدای هغه بلنه چې له جدعون څخه یې کړې وه، لولو او د جدعون هغه هڅې او کوششونه ګورو چې له وېرې او ډار سره یوځای وې، دا خبره زده کوو چې باید د خدای احترام وکړو او د ماتې او شکست او همدا راز له نورو څخه ویرې او ډار باندې غلبه حاصله کړو (قاضیان ۶ او ۷ بابونه ولولئ). د جدعون د ژوند په پام کښې نیولو سره کولای شو چې په خپل ژوند کښې د خدای د ارادې تابع اوسو. په ټول مقدس کتاب کښې د اول نه تر آخره پورې تاریخ لیدل کیږي. په زړې لوظنامې کښې تاریخی کتابونه د یوشع نه تر استر پورې او په نوې لوظنامې کښې د متی د انجیل څخه د رسولانو د اعمالو

تر کتابه پورې دي. او د پيدايښت څخه تر تثنيې پورې تاريخ او نبوت دواړه سره ګډ دي.

## نبوت

د مقدس کتاب په تاريخ کښې، خداى پاک په ځانګړې توګه د انبياو په نوم کسانو څخه استفاده کوي ترڅو په مستقيمه توګه د خداى له اړخه له خلکو سره خبرې وکړي. انبياو به د خداى هدف او اراده اعلانوله، او نبوت د هغوى پيغام ؤ. د هغوى نبوت د هغۀ حقيقت خبرتيا وه چې د ېر ژر پېښېدونکې وه. او يا د هغۀ حقيقت وړاندوينه او پېش ګويي وه چې په راتلونکي کښې پېښېدونکې وه. ځينې نبوتونو لا تر اوسه هم نه دي ظاهر شوي. نبيان د هغو پېښو پېش ګويي کوي چې په آخرالزمان کښې به څرګند شي. د حزقيل دانيال او مکاشفې کتابونه د همدې ډلې څخه شميرل کيږي. په لومړي سر کښې د هغو نبوتونو لوستل ضروري او لازمي دي چې د نوې لوظنامې په عصر کښې څرګند شوي او توضيح شوي دي. د مثال په توګه! د رسولانو د عملونو کتاب د زړې لوظنامې د څو وړاندوينو ښکاره کيدل او ظاهرېدل ښيي چې عبارت دی د: روح القدس د نازلېدو، د مسيح کړاو او تکليف ليدل او د هغه رټل کيدل، د اسرائيلو د قوم د بچو غلامي په مصر کښې، د مسيح مرګ او د مړو څخه د هغۀ بيرته راپورته کېدل، د ملتونو ژغورنه، د انجيل په درک کولو او منلو کښې د انسانانو د زړونو کلکوالی او داسې نور. که څه هم د ځينو

نبوتونو پوهېدل د هغې د سمبولیکې ژبې د کارولو په وجه ډېر سخت دي، مګر په دې خاطر چې د خدای د پلان او نقشې روښانه تصویر له ځانه سره ولرو د دې نبوتونو او وړاندوینو لوستلو ته اړتیا لرو. د زړې لوظنامې وروستي ۱۷ کتابونه، مزامیر (زبور) او مکاشفه د ډېرو مهمو نبوتونو څخه ډک دي.

## شعر او غزل

شعر یو داسې لیکنه ده چې د انساني عواطفو او جذباتو د څرګندونې لپاره د ځیني خاصو طریقو او ریتمونو څخه کار اخلي. په داسې حال کښې چې تاریخ د حقیقي پېښو او یا د انسانانو د کړووړو څخه بحث کوي، شعر او غزل د انسان افکار، ژور احساسات لکه ښادي، غم، نااميدي او خوشحالي څرګندوي. په شعر کښې مجازی ژبه زیات کارول کېږي. شعر د تاریخی پیښو په څیر په لفظي توګه نشو تفسیرولی. نو په همدې اساس کله چې د ایوب کتاب، او د زبور شعري کتابونه، امثال، جامعه، غزلیات او نور شعري متنونه چې په مقدس کتاب کښې موجود دي، لولو باید په مجازي ژبه کافي بلدیت ولرو.

## توازن (ورته والی یا برابروالی)

زما خبرو ته غوږ شه.
زما فریاد واوره.

## تضاد

غصه د خوشحالۍ د له منځه وړو سبب ګرځي،
مګر نيکي خبرې نيکمرغي منځ ته راوړي.

عبراني ليکوالانو د خپلو عقايدو او مفکورو د تنظيمولو لپاره به اکثراً دوه بېلابېلې فکري افادې له يوبل سره تړلي دي چې دغه کار ته توازن يا ورته والی وايي. ارتباط يا تړاو کېدای شي چې تکراري وي. د پنځم زبور لومړي آيت، يعنې (زما خبرو ته غوږ شه او زما په خيالونو او مفکورو غور وکړه.) په وروستي آيت کښې بيا تکرار شوی دی (زما فرياد واوره ای زما مالکه خدايه!) دوه وروستۍ افادې هم يو د بل تکرار کوي او دغه طريقه په ټول متن کښې دوام لري.

کيدای شي چې دوه عبارتونه د تضاد له لارې هم يو د بله سره تړاو ولري لکه "غصه د خوشحالۍ د له منځه وړو سبب ګرځي، مګر نيکی خبری نيکمرغي منځ ته راوړي" (امثال ۱۲: ۲۵).

يا کيدائ شی چې د يو فکري افادې په زياتولو سره بل عبارت په ښه توګه د پوهېدلو وړ وګرځي. د دې طريقې څخه د ايوب په کتاب ۳۲: ۲۱ کښې استفاده شوې ده. لومړۍ برخه يې په دې ډول شروع کيږي: (خبردار! چې د ګناه لورې ته ليواله نشې) او وروستی جمله د مخکينۍ جملې معنی په ډير ښه

توګه توضیح کوي. «دا ټول کړاونه خدای ځکه پر تا راوستل ترڅو د ګناه څخه ځان لرې وساتې».

د شعری کتابونو اصلي موضوعات زمونږ د ژوندانه د عواطفو او احساساتو څرګندونه ده. د ایوب کتاب د انسان کړاونه او تکلیفونه بیانوی، زبور مونږ د خدای عبادت ته رابولی. د امثالو کتاب زمونږ په ورځنی ژوند کښې د حکمت د لرلو پر ضرورت ټینګار کوي. د جامعې کتاب مونږ ته د ژوندون منفی او د شک څخه ډک اړخونه را په ګوته کوي او د غزلیاتو کتاب د دوو همرازو لکه ښځه او خاوند مینه بیانوي.

## خطونه او لیکونه

خطونه په سادګۍ سره د پېژندنې وړ دي چې په سلام سره پېلېږي او بیا اصلی موضوع باندې غږېږي او بالاخره په دعا او ستاینې سره پای ته رسي. د لیکونو اصلی موضوع کېدای شي چې د هغو سوالونو ځوابونه وی چې په بل خط کښې ذکر شوي دي. په همدی اساس باید په یاد ولرو چې یو خط د څو خاصو ضرورتونو او اړتیاو ته ځواب ورکونکی وي او د ټولو موضوع ګانو په اړوند پوره ښودنه او تعلیم نه ورکوي.

پولوس د نوی لوظنامې دیارلس لیکونه ولیکل چې د رسالو په نوم یادېږي. نورو اتو کسانو ۸ نور خطونو لیکلي دي چې په نوې لوظنامې کښې شامل دي. کله چې دا لیکونه لولو

او د هغې تعليمات سره ورته کوو نو د نوي ژوند او په عيسی مسيح باندی د ايمان مهمې لارښوونې درک کوو.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۴ـ د مقدس کتاب لاندني برخې ولولئ او د ليکنې طرز او لاردود يې په نښه کړئ؟

الف) فيليپيان ۱: ۱ـ۲

ب) ذکريا ۱: ۱۴ـ۱۸      ۱- تاريخ

ج) زبور ۹۱      ۲- نبوت

د) اول کورنتيان ۵: ۹ـ۱۱      ۳- شعر

هـ) دويم سموئيل ۷: ۱۸ـ۲۸      ۴- ليک

و) ايوب ۳۲: ۲۲ـ۲۲

ز) د رسولانو کارونه ۲: ۱-۱۳

ح) مکاشفه ۴: ۱-۱۱

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ الف) تحت اللفظی

ب) مجازي

ج) مجازي

د) مجازي

۲_ الف) ۲

ب) ۳

ج) ۱

د) ۴

ه) ۷

ر) ۵

و) ۲

۳_ الف) ۳- تضاد:- د مرګ حاصل د ژوند د حاصل سره په تضاد کښې دی.

ب) ۱- تکرار:- ورته عبارتونه لکه ((پخپله مسیح)) ((د هغه د بدن سره)) ((هغه فسخ وکړ)) ((د هغه د مرګ سره)) ((د صلیب په وسیله)) ((مسیح راغی او وغظ یې وکړ))((د مسیح له طریقه)).

ج) ۴ او ۵:- پرمختګ او اصلی ټکی، ایلیا پیغمبر د خدای تابعداري وکړه. او د دې پېښنو په هره مرحله کښې یی په خدای توکل وکړ او په آخر کښې یوه کونډه ښځه هغه د خدای د خادم په توګه پېژني.

د) ۵:- اصلي ټکی: خدای جدعون ته درې ښنبې ورکوي چې د یو د بل سره د عطف ټکي پیدا کوي.

هـ) ۲:- دلایل او نتایج: د سلیمان دعا د حکمت او پوهې لپاره د خدای رضا راجلب کړه او په نتیجه کښې د هغهٔ غوښته ومنل شوه او د خپلې غوښتنې څخه هم زیات څه حاصل کړل.

و) ۳:- تضاد: زوړ او شرارت کاره ژوند، دروغ او قهر د نوي ژوند، نوو هیلو، او تازه او د حقیقت او هوسایۍ لپاره د نوي فکر سره په تضاد کښې دی.

ستاسو نظریات ممکن له دې ورکړل شویو ځوابونو سره په پوره توګه ورته والی ونلري، خو بیا هم تاسو باید د خپلو ځوابونو لپاره لازم دلایل وړاندې کړئ.

۴_ الف) ۴- لیک: لیک په سلام پیلېږي.

ب) ۲- نبوت: دا آخري زمانې په هکله وړاندوینې.

ج) ۲ او ۳- نبوت، شعر: توازن (د خدای د حقیقت په اظهار کښې برابروالی یا ورته والی).

د) ۴- خطونه: خاصو کسانو ته د هغوی د سوالونو په هکله ځواب ویل.

هـ) ۱- تاریخ: د هغه واقعو بیان چې داود پاچا ته ورپېښې شوي وو.

و) ۳- شعر: توازن (مساوات او ورته والی) او دې ته ورته آیتونه.

ز) ۱- تاریخ: د هغه واقعې بیان چې د پینتیکاست پر ورځ پېښ شو.

ح) ۲- نبوت: رویا یا د راتلونکو پېښو وړاندوینه.

## څلورم لوست

# د مقدس کتاب د لوستلو لپاره تیاری

مونږ د مقدس کتاب د لوستلو لپاره دلایل بیان کړل او د هغې په اړه مو یوه لنډه پیژندنه هم وړاندې کړه، نو اوس د دې مسئلې څېړلو ته اړتیا لرو چې څرنګه مقدس کتاب مطالعه کړو. په دی لوست کښې به هغو عواملو ته کتنه وکړو چې تاسو د مقدس کتاب لوستلو ته چمتو کوي.

په راتلونکو څلورو لوستونو کښې به هغه طریقی اولاږ دودونه زده کړئ چې د مقدس کتاب د لوستلو سره تړاو لري. کېدای شي تاسو دا سوچ وکړئ چې د مقدس کتاب لوستل یو ناشونی کار دی. ډېر مسایل شته چې باید په پام کښې ونیول شي چې د ځینو پوهېدل ګران دي. مګر که چیری د هرې لویې مسئلې په اړوندو پوهیږئ چې باید څه او څرنګه عمل ترسره کړئ، او هغه په وړو وړو برخو وویشئ، د کار عمده او مهمې برخې به په کامیابۍ سره سرته ورسوئ. ممکن د دې موضوع پوهېدل تاسو ته په زړه پورې وي چې د کتاب د دې برخې په تیارولو کښې (څرنګه مقدس کتاب ولولو) د شلو نه زیاتو کسانو په یوې ۳۵ مرحله ایزه پروسې کښې برخه درلوده. او د

ډېرو مرحلو د بشپړېدو لپاره په هفتو هفتو وخت ته ضرورت وو. چې ځينې مراحل تکرار ته هم ضرورت درلود.

دغه کتاب د هغو کتابونو له جملې څخه دی چې د خدای د پېژندنې او د هغهٔ د ارادې د پوهېدلو په برخې کښې ستاسو د مرستې کولو لپاره ليکل شوي دي. څو کاله وړاندې ددې کار سرته رسول ناشونی برېښېدهٔ، مګر د يوهٔ عملي پلان په ترڅ کښې دا کار اوس عملي ښه ونيوله.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- د مطالعی لپاره بنسټيز اسباب
- د تفسير اساسي قواعد
- د لارښوونې لپاره دعا

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

د مقدس کتاب د مطالعی لپاره اساسي وسايل وپېژنئ.

د تفسير پر اساسی قواعدو او د ليکوال پر مقصد پوه شئ.

دا وضاحت وشئ کړای چې ولې د مقدس کتاب د مطالعې پر وخت د روح القدس تعليم ته اړتيا لرئ.

## د مطالعې لپاره بنسټيز اسباب

د روحاني ودې لپاره بهترينه لار د مقدس کتاب مطالعه ده. تاسو نشئ کولای چې په نورو تعليماتو او مطالعاتو باندې باور ولرئ. د خدای د کلام لوستل يوه فردي دنده ده او ښايي چې ستاسو د ژوندانه تر ټولو غوره او مهمه دنده وي. ځکه ستاسو په ټول وجود، شخصيت او کړو وړو باندې اثر کوي. او همدا راز ستاسو په شاوخوا کسانو کښې هم د هغې اثر او آغېزه محسوسېدلای شي. په دې توګه بايد نور خلک هم د ځان سره د خدای د کلام د لوستلو په برکتونو کښې شريک کړئ. لکه څنګه چې د خدای په پېژندنه او معرفت کښې وده کوئ، تاسو کولائ شئ د ډله ايزه غونډو او د مقدس کتاب د مطالعې د ګروپونو له لارې هم دخدای برکتونه له نورو سره شريک کړئ او د يکشنبې د ورځې په ښوونځيو کښې درسونه او تعليم ورکړئ او خپلو ملګرو او ګاونډيانو سره د عيسى مسيح په هکله خبرې وکړئ.

### تاسو بايد يو ټوک شخصي مقدس کتاب ولرئ.

هغه وسايل يا شيان چې د مقدس کتاب د مطالعې پر وخت ورته اړتيا لرئ ډېر کم دي. تاسو فقط يو ټوک شخصي مقدس کتاب ته اړتيا لرئ (که چيرې د مقدس کتاب څو بېلابېلې ترجمې ولرئ نو دا به ډېره ښه وي. ځکه تاسو کولای شئ چې د يو سخت لغت معنى په بېلابېلو ترجمو کښې سره

پرتله کړئ. ترڅو هغه په ښه توګه زده کړئ). مقدس کتاب د انسان لپاره د خدای د مکاشفي پوره بیانوونکی دی. د خدای کلام په مسیح کښې ستاسو د نوي خلقت او په آسمان کښې ستاسو د ابدي ژوندون د پېژندنې په اړه ټول مطالب تاسو ته بیانوي. په دې اساس مقدس کتاب پخپله د خپل ځان یو ډېر ښه تفسیر کوونکی دی. هر څومره چې هغه زیات ولولئ، په هغه اندازه د هغې په معنی ډېر پوهیږئ. د مقدس کتاب د مطالعی دوهمه آله ستاسو سترګې او فکر دی. کله چې د خپلو سترګو څخه استفاده ه کوئ، کولائ شئ چې یو لړ هغه تجربې ترلاسه کړئ چې یو وړوند کس یې نشي ترلاسه کولای. ډېر خلک پېښو ته په سطحي نظر ګوري او پر هغې ژور سوچ نکوي. نو په دې توګه داسې کسان کومه تجربه هم نشي حاصلولی.

## ولولئ او پرې سوچ وکړئ.

فیزیکي لیدنه د روحانی لیدنې سره نږدې تړاو لري او دا د خدای د ناڅرګند شوو حقیقتونو د پیژندلو او پوهیدلو په معنی دی. د «لیدنې» کلمه په مقدس کتاب کښې د «روحانی حقیقت د پیژندنې» په معنی ده. د دویم کورنتیان ۴: ۴ په مطابق هغه کسان چې د مسیح په انجیل ایمان نلري شیطان هغوی ړانده کړي دي. ترڅو هغه رڼا چې د خدای د کلام څخه ځلیږی ونه ګوري (متی ۱۳: ۱۴ – ۱۲ هم یو وار وګورئ). د اشعیا د کتاب په ۴۴: ۱۸ کښې لولو چې: هغه کسان چې

خدای نه مني ((خپلې سترګې او ذهنونه د حقیقت په لورې بندوي)). د بله اړخه هغه رښتني خلک کوم چې د خدای سره مینه لري ((هغوی به خدای وګوري)). چې دغه موضوع د متی ۵: ۸ په انجیل کښې لولو. د دې سره سره ډېر مسیحیان د خدای کلام په ښه توګه نه لولي. او هغوی د لیدلو قدرت او د حقیقت د تجربه کولو څخه په ښه شان ګټه نه اخلي.

تاسو کولای شئ چې د مسیح په شان عقل او سوچ ولرئ (اول کورنتیان ۲: ۱۲)، که چېرې روح القدس ته اجازه ورکړئ چې د خدای د کلام حقایق تاسو ته څرګند کړي.

د مقدس کتاب د مطالعې څخه هدف د روحاني دید او پوهې حاصلول دي. تاسو به د خدای حقیقت درک کړئ او خپل ورځنی ژوند، تصمیمونو او کړه وړه به د هغۀ د کلام په مطابق سمبال کړئ (اول کورنتیان ۲: ۱۳ – ۱۲ وګورئ).

په ژورې مطالعې سره تاسو کولای شئ چې د مقدس کتاب تعلیمات او لارښوونې د خپل نوي او تازه ژوند په اړوند وپیژنئ او په ښه توګه کولای شئ چې ناوړه او بې لارې کوونکې تعلیمات تشخیص او د هغو څخه ځانونه وساتئ. پولوس رسول د نوي جوړو شوو کلیساګانو او خپل دوست تیموتیوس ته نصیحت کوي او وائی چې دروغجنو لارښوونکو نه همیشه ځان لېرې وساتي. هغوی هڅه کوي چې مسیحیان دې ته اړ کړي

چې د هغو قوانینو د تابعدارۍ په وجه چې د مقدس کتاب سره تړاو نلري، ځانونه له حقیقت څخه لیرې نکړي.

## ولیکئ (یادداشت کړئ)

د مقدس کتاب د مطالعی لپاره دریمه آله د مطالعې پر وخت د یادداشتونو لیکل دي. د یو شي لیکل او یادداشتول له تاسو سره مرسته کوي چې همیشه هغه په یاد ولرئ ځکه تاسو هغه په بلې بڼې کښې ګورئ. د تکراریدونکو الفاظو یا د هغو خاصو موضوعاتو په لیکلو سره، د لیکوال مقصد په ښه توګه درک کولی شئ.

تاسو کولائ شی چې د ضرورت پر وخت هغه بیلابیل آیتونه چې د کتاب په مختلفو برخو کښې راغلي دي او د مفهوم له لحاظه سره تړاو لري، د یو بل سره پرتله کړئ. همدارنګه هغه سوالونه او افکار هم د یادداشت په توګه ولیکئ کوم چې د مقدس کتاب د مطالعی پر وخت تاسو ته پیدا کیږی. کله چې تاسو دغه یادداشتونه تکراروئ، تاسو کولای شئ چې هم مقدس کتاب په ښه توګه درک کړئ او هم د خپلو پوښتنو ځوابونه پیدا کړئ.

په حقیقت کښې د مقدس کتاب د مطالعی لپاره فقط دغو دریو آلاتو او شیانو ته اړتیا لرئ: یو ټوک مقدس کتاب، سترګی او فکرکول، او یو قلم. البته ځینی نور ګټور اسباب هم شته چې د مقدس کتاب د مطالعې پروخت ترې کار اخستل کیږي. تاسو کولای شئ چې د کشف الایات یا قاموس څخه چې د مقدس کتاب ټول الفاظ او د هغۀ سره اړوند آیتونه په ترتیب

سره پکې ښودل شوي دي، استفاده وکړئ. د مثال په ډول که چېرې غواړئ چې د ایمان د موضوع په هکله په مقدس کتاب کښې څېړنه وکړئ، نو د قاموس یا کشف الایاتو په مرسته کولای شئ چې په ډېرې آسانۍ سره د مقدس کتاب په مختلفو برخو کښې د ایمان په اړه مطالب پیدا کړئ. د مقدس کتاب ډېرې نسخې په خپل پای کښې کشف الایات لري.

د مقدس کتاب د لغاتو قاموس هغه بله آله ده چې د لوستلو په دوران کښې د سختو لغتونو د تعریف نه علاوه مونږ د مکانونو، د خلکو د دود دستور او په مقدس کتاب کښې د شاملو کتابونو د زمانو په اړه معلومات راکوي. د مقدس کتاب د مطالعې بله آله د هغۀ تفسیري کتابونه دي. دغه تفسیري کتابونه د څېړونکو له خواه لیکل شوي دي. د هغوی د اوږدې مودې څېړنې مونږ سره مرسته کوي چې د مقدس کتاب څخه یو نوی درک حاصل کړو.

که چېرې د دې ابزارو څخه هېڅ یو هم له تاسو سره نه وي، تاسو مه خواشینې کېږئ. روح القدس کولای شي چې د دې وسایلو څخه پرته هم تاسو ته د خدای د کلام معنی ښکاره کړي. د خدای څخه وغواړئ چې د مطالعې په هغې طریقې کښې ستاسو هدایت وکړي کوم چې تاسو یې د مقدس کتاب د لوستلو لپاره غوره کوئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

١ـ د مقدس کتاب په لوستلوسره به د انسان لپاره د خدای مکاشفه درک کړئ، ځکه ........................................

الف) نورو مذهبی کتابونو خپل موضوعات په دوو نسخو کښې وليکل.

ب) نور کتابونه د خدای د مکاشفی په هکله خبری نه کوي.

ج) مقدس کتاب د انسان لپاره د خدای د ټولې مکاشفې بيانوونکی دی.

٢ـ د مقدس کتاب د مطالعی لپاره تر ټولو مهم اوزار دا دي.

الف) د نامتو ليکوالانو تفسيرونه.

ب) يو ټوک مقدس کتاب، ستاسو سترګې، فکر، او قلم.

ج) د نوي کشفياتو څيړنيز کتابونه.

٣ـ د روحانی ديد او فزيکي ليدنه په کومو عباراتو سره بيانېدلای شي؟

الف) د حقيقت ليدنه.

ب) د حقيقت څرنګوالی.

ج) د ليدلو لپاره رڼا.

۴ـ د مقدس کتاب د لوستلو په وخت د يادداشت ليکلو اصلي هدف دا دی چې ........................................

الف) د مطالعه شوي مطلب څخه راپور جوړ کړئ.

ب) لوستل شوې موضوع په خپل یاد کښې وساتئ.

ج) لوستل شوې موضوع په متفاوته ښه ووینئ.

خپل ځوابونه د لوست په آخر کښې پرتله کړئ.

## د تفسیر اساسي قواعد

کیدای شي چې په دې پوه نشئ چې څرنګه د مقدس کتاب مطالعه پیل کړئ؟ کوم کتاب غوره کړئ؟ په ورځ کښې څو آیتونه ولولئ؟ ښه دا ده چې یو لنډ کتاب غوره کړئ (لکه کولوسیان چې په پنځم لوست کښې به یې وڅېړو). هره ورځ د شلو څخه تر پینځه ویشتو آیتونو پورې ولولئ. ممکن له دې نه هم زیات آیتونه ولولئ، مګر ستاسو مطالعه به ډېر وخت ونیسي. ښه به دا وي چې هره ورځ یو لنډ متن انتخاب او هغه ولولئ ترڅو د خدای کلام په مفهوم په ډېره ښه توګه وپوهیږئ. لکه څنګه چې د خدای د کلام د مطالعې د څرنګوالي په هکله پوښتنې لرئ، کېدای شي چې د کلام د مختلفو برخو د معنی په هکله هم ځینې پوښتنې تاسو ته پیدا شي. چې تاسو څه ډول کولای شئ هغه معنی یا تفسیر کړئ.

د تفسیر یوه قاعده دا ده چې په مقدس کتاب کښې د یو ټاکل شوي متن په اړوند پوښتنې مطرح کړئ. لیکوال یې څوک دی؟ د هغې اصلی موضوع څه ده؟ د هغې آدرس او اشاره چاته ده؟ متن د چا او څه شي په هکله خبرې کوي؟ څنګه یو کار ترسره کیږي؟ څه وخت ترسره کیږي؟ چېرې تر سره کیږي؟ دا متن څه معنی لري؟ د دې مطلب د بیانولو مقصد څه ؤ؟ د کوم حقیقت څرګندوونکی دی؟ مونږ د بېلګې په توګه رومیان ۸: ۲۲_۲۷ آیتونه د نمونې په ډول تفسیروو.

"روح القدس هم په دې شان زمونږ په کمزورتیاؤ کښې مدد کوي. مونږ ته دا هم نه ده معلومه چې دعا څنګه کول په کار دي خو روح القدس په اسویلو زمونږ شفاعت کوي چې په لفظونو کښې نشي بیان کېدلی. او خدای څوک چې زمونږ د زړونو لیدونکی دی، هغه ته دا معلومه ده چې د دې روح القدس خیال څه دی ځکه چې هغه د خدای د خلقو د پاره د خدای د مرضۍ په مطابق شفاعت کوي" (رومیان ۸: ۲۲–۲۷).

مونږ نشو کولای چې لومړنیو دریو پوښتنو ته ځواب ووایو. مګر دا چې دغه آیاتونه د کومې موضوع په هکله دي، د پوهیدو وړ ده. دغه آیتونه د دعا په هکله، او په دعا کښې د روح القدس د مرستې کولو په هکله دي. روح القدس زمونږ پر ځای دعا کوي. دا چې روح القدس څه رنګه دعا کوي. هغه په زاریو او ننواتو سره زمونږ د زړه فریادڅرګندوي. چې دغه فریاد زمونږ د زړه څخه چې د روح القدس د اوسیدلو ځای دی

راپورته کېږي. کله چې مونږ نه پوهېږو چې څنګه دعا وکړو روح القدس زمونږ لپاره دعا کوي. د خدای روح د خدای د قوم پر ځای چې هغوی هر څېرې وي دعا کوي. دغه متن مونږ ته په ډاګه کوي چې په دعا کولو کښې يو لوی مرستندوی او ملګری لرو. روح القدس نه يوائې پخپله زمونږ لپاره شفاعت کوي، بلکه دغه کار د خدای د خوښې او ارادې سره سم سرته رسوي. مونږ تر اوسه هم نه پوهېږو چې دغه آيتونه څنګه کولای شي د ليکونکي اصلی هدف بيان کړي. مګر دغه آيتونه مونږ د ايمان لورې ته تشويقوی او مونږ ته وائي چې که چيری مونږ په واقعي توګه د خدای د ارادې په لټه کښې شو، نو د خدای روح به زمونږ خيالونه نوي او تازه کړي ترڅو د خدای د خوښې او ارادې سره سم دعا وکړو.

## متن د معنی په پوهېدلو کښې مرسته کوي

د سوالونو د ځواب لپاره بايد په متن کښې نور آيتونه هم ولولو. دغه آيتونه د «قرينه يا د مضمون» په نامه ياد يږي.

کله چې د ۱_۲۵ آيتونه لولو، ګورو چې ليکونکی د نوي او تازه ژوند د روح القدس له طريقه (۵ او ۹ آيتونه)، د خدای د زامنو په صفت (۱۴ او ۱۷ آيتونه) چې د جلال څخه ډک راتلونکي هيله لري (۱۸ آيت)، بحث کوي. دغه قرينه يا مضمون زمونږ سره مرسته کوي ترڅو د روح القدس قدرت په

دعا کښې په بهتره طريقه وپېژنو ځکه چې په مسيح کښې مو تازه ژوند موندلی او د هغه ملګري يو.

د روميانو د خط د اول باب په لوستلو سره په دې پوهيږو چې، پولوس چې يو رسول دی (اول آيت) دغه ليک يې د روم کليسا ته په خطاب کښې ليکلی دی (۷ آيت). پس له سلامه، د ليک اصلی موضوع په ۱۲ او ۱۷ آيتونو کښې بيانوي: ((د عيسی مسيح د انجيل په مطابق خلاصون فقط د ايمان له لارې حاصلېدای شي نه د کومې بلې لارې څخه)).

اوس ګورو چې هغه ټينګار چې په ۸: ۲۲_۲۷ کښې شوی دی هغه په روح القدس کښې زمونږ د برياليتوبونو په اړه دی چې دا د پولوس د ليک اصلي موضوع جوړوي. هغه وائی چې ايمان خلاصون او په آسمان کښې د جلاله څخه ډک راتلونکی له ځانه سره لري.

د تفسير دوهمه قاعده دا ده چې د هر آيت معنی د هغې په مضمون کښې شرحه کړو. غلطه زده کړه هغه وخت منځ ته راځي چې يو آيت او يا د هغې يوه برخه د خپل اصلي مضمون او قرينې څخه جلا کړو. ځينی وخت خلک د خدای وعدې د هغو د شرايطو د په پام کښې نيولو څخه پرته بيانوي چې د نوموړو وعدو سره يوځای دي (دا شرايط په متی ۶: ۳۳ کښې ولولئ).

ممکن نور کسان د خپل نظر د ثابتولو لپاره د یوۀ آیت څخه استفاده وکړي، پرته له دې چې د هغه آیت اصلي مضمون په پام کښې ونیسي. د بیلګی په توګه: که چېرې یو سړی چې خپلی ښځی ته طلاق ورکوي نو هغه اول کورنتیان ۷: ۱ ته مراجعه کوي ترڅو د خپلو هیلو لپاره یو دلیل پیدا کړي. مګر دغه آیت د هغۀ د خواهش د پوره کولو او بحث لپاره کافی نه دی. په حقیقت کښې کله چې د کورنتیانو د لومړی خط ټول ۷ بابونه، د افسیانو پنځم باب او د تیموتیوس اول خط ۴: ۱_۴ آیتونه ولولو نو وبه ګورو چې خدای پاک طلاق نه خوښوي. کله چې یو متن یوه محدوده ښوونه څرګندوي او یا داسې ښکاري چې د نورو برخو سره تناقض لري، نو باید د نومورې ښوونې په اړوند نورې برخې هم ولولو. او د تفسیر دریم قانون د یو متوازن او بشپړ حقیقت په پېژندلو کښې زمونږ سره مرسته کوي. د مقدس کتاب په څنډو او حاشیو کښې د لیکل شویو حوالو او اشارو څخه هم کولای شئ چې استفاده وکړئ کوم چې د موضوع په اړوند توضیحات لري. د تفسیر د دې دریو قواعدو په کارولو سره به د مقدس کتاب لوستل تاسو له ډېره آسانه شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵_ د ورکړ شویو ځوابونو څخه درست ځواب غوره کړئ.

الف) که چیری د مقدس کتاب د یو متن د مطالعی په وخت څه سوالونه مطرح کړئ نو دا به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو (په ښه توګه متن تفسیر کړئ/ پوه شئ چې د متن په څومره برخې باندې پوهیږئ).

ب) که چیرې نشئ کولای چې د مقدس کتاب زیاتو سوالونو ته ځواب ووائئ (خپلې مطالعې ته دوام ورکړئ ترڅو نور مطالب پیدا کړئ/ مضمون یا زمینه ولولئ ترڅو لا زیات ځوابونه پیدا کړئ).

ج) هغه آیتونه چې ستاسو د مقدس کتاب په څنډو او حاشیو کښې لیکل شوي دي (د هر چا د مطالعې لپاره ګټور دي/ یوازې د ښوونکو لپاره مهم او ګټور دي).

د) د تفسیر د قواعدو څخه کار اخیستل تاسو سره مرسته کوي ترڅو (خپلو عقایدو لپاره دلایل پیدا کړئ/ د غلطو عقایدو څخه ځان وژغورئ).

۲ـ د رومیانو ۱۴: ۴ آیت ولولئ. او لاندیني سوالونو ته د ځواب ورکولو په ترځ کښې هغه تفسیر کړئ.

الف) دغه آیت د کومې موضوع په هکله دی؟

ب) د ۱ـ۲ آیتونه ولولئ. تاسو ته به هغه عوامل روښانه شي کوم چې د روم په

کلیسا کښې د ستونزو د پیدا کیدو سبب شوي وو؟

ج) کولوسیان ۲: ۱۲ ولولئ چې د رومیان ۱۴: ۱_۲ لپاره د یوی مرجع په عنوان ذکر شوی، او همدا شان اول تیموتیوس ۴: ۳ هم ولولئ چې د لوست په ترخ کښې مو هم ورته اشاره وکړه. دا آیتونه کومه موضوع بیانوي؟

د) یعقوب ۴: ۱۱_۱۲ ولولئ. هغه تعلیم او ښوونه چې دی آیت پورې تړلې ده کومه ځانګړې معنی وړاندې کوي؟

ه) متی ۷: ۱_۵، لوقا ۲: ۴۱، ۴۲ او ۳۷_۳۸ ولولئ چې د مسیح د تعلیماتو په هکله دي. هغه بله سپارښتنه چې په لوقا ۲: ۳۷_۳۸ کښې د نورو سره زمونږ د اړیکو او کردار د څرنګوالي په اړه یاده شوې ده څه ده؟

و) د رومیانو ۱۴ باب په بشپړه توګه ولولئ ترڅو د ۴ آیت د تعلیم په معنی وپوهېږئ. د خپلو هغو مسیحی ورونو سره چې د هغو سوچونه او فکرونه ستاسو په شان نه دي څه ډول چال چلند باید وکړئ؟

# د لار ښوونې لپاره دعا

مونږ د خدای روح لرو او هغه مونږ سره مرسته کوي ترڅو د خدای اراده درک کړو. روح القدس همیشه په مونږ کښې ژوند کوي او زمونږ لارښوونکی دی. دغه ټکی د اول یوحنا په ۲: ۲۷ کښې لولو، "خو روح القدس چې په تاسو د هغهٔ نه نازل شو، که هغه په تاسو کښې اوسي نو تاسو ته د بل استاذ حاجت نشته. او د هر څه چې درته حاجت وي نو روح القدس به يې درته ښايي، او څه چې درته هغه ښايي، ريښتيا دي، نه چې دروغ. او څنګه چې هغه تعليم درکړی دی دغسې په هغهٔ کښې پاتې شي."

دا خبره په یاد ولرئ، هغه کسان چې د خدای روح نه لري نشي کولای چې د مقدس کتاب حقایق تفسیر کړي. مونږ هم که چېرې د خدای څخه مرسته ونه غواړو د هغې د تفسیر قدرت نه لرو. خدای خپل حقیقت په زوره په مونږ نه تپي او نه مو د هغې پوهېدلو ته اړ باسي. باید دعا وکړو ترڅو د خدای په کلام پوه شو. لکه څنګه چې داؤد بادشاه دغه دعا همیشه تکراروله. "سترګې مې پرانیزه، ترڅو ستا د شریعت عجیبه شیان ووینم. زه په ځمکه کښې غریب او بې‌چاره یم. خپل حکمونه زما څخه پټ مه ساته. ستا حکمونو ته لیوالتیا مې لکه د اور په شان ټول بدن سیزي" (زبور ۱۱۹: ۱۸–۱۹).

د مقدس کتاب ګټوره او مؤثره لوستنه د دعا پر بنسټ ولاړه ده. دعا د خدای لپاره زمونږ د عاجزۍ، ریښتینولۍ، او په هغهٔ د توکل او اعتبار ښکارندوی ده. دعا د خدای د مرستې او لارښوونې د لاس ته راوړلو لپاره زمونږ د ضرورتونو او اړتیاو بیانوونکی دی. دعا مونږ سره په ژوره مطالعه کښې مرسته کوي او د مقدس کتاب تعلیمات په ښه توګه راښیي. دعا زمونږ ذهن خلاصوي ترڅو د حقیقت منلو ته چمتو شو.

"د دې د پاره د خپل عقل نه کار واخلئ او هوښیار شئ، او د هغه فضل کامل امید لرئ کوم چې د عیسی مسیح د ظاهرېدو په وخت په تاسو کېدونکی دی" (اول پطروس ۱: ۱۳).

یو ځل بیا دویم تیموتیوس ۳: ۱۲_۱۷ ته پاملرنه کوو چې وائي: "هره صحیفه د خدای د روح د الهام په وسیله ده او د تعلیم الزام، اصلاح او صداقت د تربیت د پاره فایده مند هم. د دې د پاره چې د خدای بنده کامل شی او د هر نیک کار لپاره بالکل تیار شي."

دغه آیتونه مونږ ته ښیي چې ولی د خدای د کلام لوستلو ته اړتیا لرو. دعا وکړئ چې د خدای روح تاسو سره مرسته وکړي چې ددې کتاب د لوستلو په ترڅ کښې تر هغه حده چې کولای شئ د خدای د کلام تفسیر زده کړئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۷_ د لاندينو ځوابونو څخه کوم يو دغه لاندينۍ جمله پوره کولای شي؟

دعا د خدای د کلام د مؤثرې لوستنې لپاره ډېره ګټوره ده، ځکه ..............................................................................

الف) روح القدس زمونږ ښوونکی او استاذ دی.

ب) مونږ د هدايت او لارښونې لپاره خپلې اړتياوې د دعا له لارې پېژنو.

ج) دعا مونږ د حقيقت قبلولو لپاره تيار روي.

د) دعا د خدای د کلام د مطالعې دروند بار کموي.

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ ج
۲ـ ب
۳ـ الف
۴ـ ج
۵ـ الف) په ښه توګه متن تفسیر کړئ
ب) مضمون یا زمینه ولولئ ترڅو لا زیات ځوابونه پیدا کړئ.
ج) د هر چا د مطالعې لپاره ګټور دي
د) د غلطو عقایدو څخه ځان وژغورئ.
۶ـ الف) مونږ باید پر خپلو مسیحي ورونو تور ونه لګوو او هغوی محکوم نکړو. د هغوی مالک عیسی مسیح دی. هغه به د هغوی په هکله قضاوت کوي.
ب) دلته په دې اړه بحث شوی دی چې ایمانداران څه وخوري او څه ونه خوري. او یا دا چې کولای شو چې یوې ورځې ته د بلې ورځې په پرتله فضیلت او برتري ورکړو او که نه. که چیرې ۱۷ آیت ولولو نو وبه ګورو چې دا مسائل د دې ارزښت نلري چې پرې تشویش وکړو.

ج) اصلي ټکی دا دی چې مونږ باید د خدای نه د هدایت او لارښوونې غوښتونکي شو نه د اشخاصو نه.

د) دلته اصلي موضوع دا ده چې د بل چا ملامتول او محکومول زمونږ نا فرماني ښکاره کوي. مونږ ته نه ښايي چې د خدای نقش ولوبوو، کنه مونږ به هم د ډېرې سختې محاکمې او ملامتۍ لاندې راشو.

هـ) اصلي خبره دا ده چې نه يوائې هغوی محاکمه نه کړو بلکه د ورکړې او بخشش له طريقه هغوی سره سخاوتمندانه مينه وکړو.

و) باید هغوی ملامت او یا محکوم نکړو، ددې پر ځای باید د هغوی څخه پاملرنه وکړو او داسې کار ونکړو چې د هغوی د ایمان د ضعیفۍ او کمزورۍ سبب شي.

۷_ الف، ب او ج

# ستاسو یادداشت

پنځم لوست

# د مقدس کتاب د کتابونو د لوستلو طریقه

داسې ښکاري چې د ځینو آیتونو لوستل چې مونږ ورسره لیوالتیا لرو، کولای شي مونږ په روحاني لحاظ تغذیه کړي. مګر مونږ د خدای د کلام څخه مکملو خواړو ته اړتیا لرو تر څو د مسیح په شان قد او قامت پیدا کړو (افسیان ۴: ۱۳). باید هره ورځ زمونږ ټول وجود د خدای د کلام په وسیله تغذیه شي ترڅو دغه هدف ته ورسېږو. عیسی مسیح وویل: "زه د ژوندون ډوډۍ یم. څوک چې ما له راځی هغه به هیڅکله نه وږی کیږي او څوک چې په ما ایمان راوړي هغه به هیڅکله نه تږی کیږي" (یوحنا ۶: ۳۵).

د ژوندون د ډوډۍ په توګه عیسی مسیح زمونږ د ژوند سرچینه ده. په عیسی مسیح کښې زمونږ د ژوندون د ښه درک کولو لپاره مونږ دې ته اړتیا لرو چې وپوهېږو چې د مقدس کتاب هره صحیفه د هغه په هکله څه وایي. زمونږ ایمان او درک دواړه په غبرګه توګه وده کوي. یعنې په هره اندازه چې زمونږ پوهه د مقدس کتاب په هکله زیاتیږي په هماغه اندازه

زمونږ ایمان قوي او مضبوطیږي. کله چې خلکو د عیسی څخه پوښتنه وکړه چې هغوی کوم کار ترسره کړي ترڅو خدای پرې خوشحاله شي. هغۀ په ځواب کښې وویل: خدای د ټولو نه غواړي چې د هغۀ په زوی ایمان راوړي. کله چې په مسیح ایمان راوړو، مونږ کولائ شو هغه کار وکړو چې خدای د ارادې په مطابق وي او هغه پرې راضي کیږي (یوحنا ۲: ۲۸_۲۹).

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د مقدس کتاب د کتابونو د لوستلو ګټه
- ❖ د هر کتاب د لوستلو طریقه
- ❖ د کولوسیانو کتاب

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

د خدای د کلام د مطالعې اهداف په ښه توګه درک کړئ.

هغه څه مو چې د خدای د کلام څخه زده کړي دي هغه په عمل کښې پلي کړئ.

## د مقدس کتاب د کتابونو د لوستلو ګټه

په مقدس کتاب کښې د شاملو کتابونو مطالعه د دې سبب ګرځي چې مونږ د خدای د مکاشفې په اړوند بشپړه پوهه تر لاسه کړو. په دې توګه کولائ شئ پوه شئ چې د مقدس کتاب

پېښې څنګه د یوبل سره تړاو لري او د یو بل بشپړ کوونکي دي. تاسو به دا پوهه او په روحاني لحاظ دا چمتووالی پیدا کړئ چې د مسیح د دوباره راتګ لپاره چې د هغې پېشګویي لاپخواه شوې ده ځانونه تیار کړئ. او د نورو درسونو او روحاني حقیقتونو لپاره یو ژور او مضبوط بنیاد جوړ کړئ.

د مقدس کتاب د کتابونو د هر یو د مطالعې اهمیت او لوړوالی د هغۀ د تعلیماتو په پېژندنې او پوهیدنې کښې دي کوم چې د دغه کتاب پورې مختص شوي دي. اکثراً مونږ کولای شو چې د یوۀ متن معنی هغه وخت ښه درک کړو چې ټول مضمون ولولو. له دې لحاظه له ټول مقدس کتاب سره پېژنګلوي له تاسو سره مرسته کوي ترڅو درست او غلط تعلیمات سره وپېژنئ. هغه تعلیمات چې نن هم د لومړنۍ کلیسا د دوران په څیر ډیر زیات عام او شایع دي. د نوې لوظنامې ډېرې رسالې له غلطو تعلیماتو سره نښغ په نښغ دي چې د مسیح د مرګ او بیا ژوندي کېدو څخه وروسته را پیدا شوي دي. د مقدس کتاب د کتابونو د مطالعی د ټولو نه لویه ګټه دا ده چې د خدای کلام په تاسو کښې د ژوندی کېږي. کله چې تاسو په خپل ژوند کښې د ستونزو سره مخامخ کېږئ، کولای شئ چې د مقدس کتاب لارښوونو ته مراجعه وکړئ ترڅو ستاسو ایمان قوت ومومي او د خدای کلام تاسو ته تعلیم درکړي او دروښیي چې څه باید وکړئ.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۱ـ د مقدس کتاب د کتابونو د مطالعې درې ځانګړې ګټې بیان کړئ؟

## د هر کتاب د لوستلو طریقه

مطالعه د کتاب په لوستلو سره پیلېږي. د یو کتاب په بشپړې مطالعې سره تاسو کولای شئ د هغهٔ کتاب یو پوره تصویر په خپل ذهن کښې انځور کړئ. ښه دا ده چې د کولوسیانو کتاب او یا یو بل کتاب دوه یا څو ځله ولولئ (حتی ۱۰ او یا ۱۲ ځله) او دا کار د مطالبو د یادداشت او د پوښتنو د ځواب ورکولو څخه وړاندې ترسره کړئ.

دغه کار د کتاب د اصلي موضوع څخه مونږ لپاره یو جامع تصویر ښکاره کوي او تاسو سره مرسته کوي چې د لیکونکي احساسات په پوره توګه درک کړئ. دا احساسات ممکن نااميدي، هڅونه او لیوالتیا، لمانځنه، امید، خوشحالي، علاقمندي، غم، عاجزي، عدالت او داسې نورې انساني غریزې وي. لوستل د عبارت او د کلیدي لفظونو په پوهیدلو کښې ډېره مرسته کوي. د لیکوال د مقصد د پوهېدلو لپاره لومړی ګام دا دی چې د هغهٔ لیکنه ولوستل شي او له

نظره تېر شي. په دغه مرحله کښې يواځې دا کافي ده چې د وخت د مصرفولو، حوصله مندۍ او ليوالتيا څخه کار واخيستلی شي. دوهم ګام د ليکوال د نظر او مقصد تفسير دی. د دې کار لپاره د تفسير د دريو هغو قوانينو څخه استفاده وکړئ کوم چې په څلورم لوست کښې مو ولوستل.

د پوښتنو طرحه کول، مضمون ته پاملرنه، او په مقدس کتاب کښې د موضوع په اړوند هغو برخو ته پاملرنه چې هغۀ پورې اړه لري، ضروری دي. همدارنګه بايد د ليکنې په طرزالعمل، ژبې او دنظرياتو د تنظيم څرنګوالي ته هم پاملرنه وکړو. دې مسائلو ته په پاملرنې سره هغه ټکي چې تاسو يې له نظره تېروئ ټول يادداشت کړئ.

هڅه وکړئ چې د کتاب په بشپړ معنی باندې ځان پوه کړئ. په دې معنی چې دکتاب اصلي ټکي غوره کړئ او د يوبل سره د هغو تړاو په لنډ ډول وليکئ. او دا کار پخپله سرته ورسوئ. کله مو چې دغه کار يو ځل تر سره کړو، نو د خدای کلام په تاسو کښې ژوندی کېږي او ستاسو د وجود يوه برخه ګرځي او تاسو ته ژوند بخښونکی او جوړونکی قدرت بخښي.

دريم ګام چې بايد واخيستل شي دا دی چې د دغه ژوند بخښوونکی قدرت په څپل ژوند کښې وکاروئ. بايد اجازه ورکړئ چې هغه څه چې د مسيح څخه يې زده کوئ، ستاسو شخصيت او اعمالو ته تغير او بدلون ورکړي. کله چې دا کار

صورت وموميي، ستاسو ژوند به د نورو لپاره د ډېوې په شان وي او کولای شئ چې هغو ته هم د مسيح لاره وښيئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۲_ په مقدس کتاب کښې د شاملو کتابونو په مطالعه کښې درې اصلي ټکي او ګامونه کوم دي؟

## د کولوسيانو کتاب

مخکې له دې چې دا لوست پيل کړئ، مهرباني وکړئ لومړی د کولوسيانو خط په غور سره ولولئ. ممکن د تفسير څخه مخکې هغه څو ځلې په تکراري توګه ولولئ. دا به ښه وي چې په ابتدا کښې هغه سريزه او فهرست ولولئ کوم چې د کولسيانو د رسالې په پيل کښې راغلې ده. دغه مقدمه تاسو ته دا ښيي چې پولوس رسول دا ليک د کولوسيانو کليسا ته ځکه وليکۀ چې د غلطو لاربنونو او تعليماتو مخالفت وکړي. د دی رسالی اصلی موضوع دا ده چې عيسی مسيح دا قدرت لري چې بشپړه ژغورنه تاسو ته درکړي. د يو ځل مطالعې څخه وروسته دغه کتاب د دوهم ځل لپاره هم ولولئ او هغه مطالب چې د کتاب څخه زده کوئ هغه يادداشت کړئ. په پام کښې

ولرئ چې دغه کلمات او عقاید څو څو ځله په کتاب کښې تکراریږی، ایمان، آزادېدل، په مسیح کښې ژوندون. دغه تکراري الفاظو ته پاملرنه وکړئ ځکه چې د اصلي عقایدو په معلوملو او پیژندلو کښې تاسو سره مرسته کوي.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

د صحیح ځواب مخی ته د (✓) علامه کېږدئ.

۳_ د خط د لیکلو په وخت کښې د پولوس احساس او حالت څرنګه ښکاریده؟

د دې مطلب د پوهېدلو لپاره د کولوسیانو د کتاب څخه دغه آیتونه ولولئ. ۱: ۱۲–۱۴ او ۱: ۲۴ او ۲: ۱، ۲ او ۵).

الف) قهر او غصه

ب) زړه سواندی

خ

واشیند

تیا

۴_ د هغه څه په اساس چې تاسو ولوستل، د دې لاندینیو موضوعاتو څخه کوم یو د کولوسیانو د کتاب اصلي ټکی او موضوع جوړوي؟ د دی مطلب د پوهېدلو لپاره دا آیتونه ولولئ (کولوسیان ۲: ۱۰ او ۳: ۱۱).

الف) د مسیح سره د یووالي په نتیجه کښې
کامل ژوندتر لاسه کوو.
ب) په آسمان کښې کامل ژوند تر لاسه کوو.

# د کولوسیانو د کتاب د تفسیرولو قوانین

د کولوسیانو کتاب یو داسې لیک دی چې ادبی سبک لري. د هغهٔ لیکوال، پولوس د خپل لیک په ترڅ کښې د خلاصون په هکله د غلطو لاربنوونو پر سر بحث کوي. هغه د بدیع د فن له قواعدو څخه په استفادې سره د لوستونکي په ذهن کښې یو داسې تصویر جوړوي چې لوستونکی مسیح سره د حقیقی یووالی په معنا پوه شي. د مثال په توکه په ۲: ۸ آیت کښې وائی: "د خپل ځان خیال ساتئ چې هېڅوک هم تاسو په خپل فلسفیانه او بې مطلبه ټګۍ کښې ګیر نکړي." کله چې د مسیح سره یووالی لرو، نو د خلاصون په هکله د انسان په لاس جوړ شوي قوانینو او محدودیتونو څخه به ازاد شو. خلاصون کوم زندان نه دی او نه هم مونږ مریان یو.

پولوس د خپلو عقایدو د تنظیم لپاره د مختلفو طریقو څخه کار اخلي او په اصلي ټکو ټینګار کوي. هر هغه څه چې په دې کتاب کښې پیدا کوئ هغه یادداشت کړئ او وروسته دا لاندینیو پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۵ـ دا لاندې تش ځايونه په مناسبو کلمو ډک کړئ.

الف) پولوس د بديع د فن د دريو صنعتونو څخه استفاده کوي ترڅو هغه بشپړ بدلون چې زمونږ په ژوند کښې د مسيح سره د يووالي په نتيجه کښې منځ ته راځي روښانه کړي. ۲: ۱۱، ۱۲ او ۲۰ آيتونه دا بدلون د ۲: ۱۱ ....... او ...... ۲: ۱۲ او ...... ۲: ۲۰ له لارې ښکاره کوي.

ب) بيلابيل تصويرونه دي چې په مسيح کښې زمونږ د ژوند بيانوونکي دي. په ۱: ۱۸ او ۲: ۱۹ آينونو کښې کليسا د ..... سره پرتله شوې ده، چې عيسی مسيح د هغی څارنه او کنټرول کوي چې هغه د کليسا ..... ده او په ۳: ۹ـ ۱۴ کښې زمونږ نوی ژوندون له ......... سره پرتله شوی دي.

## د موضوعاتو د سر ټکو د ليکلو طريقه

الف ـ لومړنۍ اصلي موضوع

۱) د لومړنۍ اصلي موضوع په اړوند اولنی مهم ټکی.

الف: فرعی ټکی

ب: فرعی ټکی

۲) د لومړنۍ اصلی موضوع په اړوند دوهم مهم ټکی.

الف:-فرعی ټکی

ب:-فرعی ټکی

ب_ دوهمه اصلی موضوع

۱) د دوهمې اصلی موضوع په اړوند لومړنی مهم ټکی.

الف: فرعی ټکی

ب: فرعی ټکی

۲) د دوهمې اصلی موضوع په اړوند دوهم مهم ټکی.

## هغه څه چې تاسو يې باید سرته ورسوئ

۲_ د هرې یوې اصلي موضوع لپاره چې په لاندي آیتونو کښې بیان شوې ده، د افکارو او عقایدو د تنظیم څرنګوالی مشخص کړئ.

الف) ۲: ۱۲ او ۱۳ او ۲۰ او ۳: ۱ آیتونه، په مسیح کښې د ژوند په هکله.

ب) ۳ : ۱۰ او ۱۱ آیتونه، ټول مسیحیان په مسیح کښې یو شان دي.

ج) ۲: ۲۰ او ۱۳: ۱ او ۵ او ۹ –۱۰ آیتونه د ګناه، مرګ او ژوند ترمنځ اړیکې.

۱) تضاد او پرتله

۲) تکرار
۳) دلایل او نتایج

دا به ډېره ګټوره وي چې د کتاب تعلیمات او ښوونې، د مقدس کتاب له نورو کتابونو د اړونده تعلیماتو سره پرتله کړو. ګڼ شمیر آیتونه د کولوسیانو او افسیانو په رسالو کښې سره نږدې اړیکي لري. د هغو څخه یو افسیان ۲: ۱ – ۱۰ دی چې د مرګ څخه د ژوند لور ته د تلو خبرې کوي.

## د کولوسیانو په رسالې کښې د موضوعاتو د سرټکو لیکنه

الف_ سلامونه او درودونه.
۱) د مسیحیانو لپاره شکرګزاري.
۲) د مسیحیانو لپاره دعاګانې.
ب_ د عیسی مسیح ماهیت او کارونه
۱) د مسیح شخصیت.
الف- د خدای د الوهیت څخه ډکوالی.
ب- پیدا کوونکی او ژغورونکی.
۲) هغه څه چې مسیح یې زمونږ لپاره سرته رسوي.
الف- مونږ خپل ملګری جوړوي.
ب- مونږ ته د خدمت کولو قدرت راکوي.
ج_ په مسیح کښې نوی او تازه ژوند.
۱) د قوت څخه ډک ژوند.

۲) ازاد ژوندون.

۳) د نویو اړیکو سره ژوند.

الف- د خدای سره اړیکی.

ب- د خلکو سره اړیکی.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۷ـ خالي ځايونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.
په افسيان ۲: ۸ ـ ۱۰ کښې راغلي دي: "ځکه چې تاسو د .... په وسيله .... موندلی دی دا ستاسو له طرفه نه نه، بلکه د خدای بخښنه ده. او دا د عملونو په سبب نه ده، د پاره د دی چې څوک .... ونه کړی. ځکه چې مونږ هم .... جوړ کړی يو او مونږ د ...... په يووالی کښی د هغه ښه کارونو د پاره ...... شوی يو کوم چې خدای د اول نه مونږ د پاره تيار کړی وو."

هغه مطالب چې په دې سوال کښې مو ولوستل تاسو لپاره کوم نوی شی نه دی ځکه تاسو مخکې دا د کولوسيانو د خط د مطالعې په ترڅ کښې زده کړي دي. دا موضوع مونږ ته دا يادونه کوي چې که څه هم مقدس کتاب له ډېرو کتابونو څخه جوړ شوی دی، مګر بيا هم يو کتاب دی.

زمونږ لوستنه يوائې هغه وخت ګټوره وي چې په دعا سره د مقدس کتاب تعليمات زده کړو او عمل پرې وکړو. پوهه يوائې کافی نه ده. بايد د خپلی پوهی څخه د عمل په ډګر کښې ګټه ترلاسه کړئ. او خپل مالک خدای ته اجازه ورکړئ چې ستاسو ژوند د خپلی ارادې سره سم کړي. مونږ هيڅ يو دا دعوه نشو کولای چې ګڼي زمونږ ژوند په بشپړه توګه د

کولوسیانو د کتاب سره مطابقت لري. سره د دې هم مالک خدای مونږ سره مرسته کړې او مونږ د هغۀ په ژمنو متکي یو.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

لاندی سوالونه ولولئ او د صحیح ځواب مخی ته ( ✓ ) نښه کېږدئ.

۸_ هغه څه مو چې د کولسیانو د کتاب له مطالعې څخه درک کړیدي هغه په لنډه توګه ولیکئ.

۹_ د خدای پاک حضور ته د داخلېدو په خاطر مونږ باید ځانله دا اجازه ورنکړو.

الف) هغه امید چې لرو له لاسه ورکړو.

ب) د بلې کلیسا په لټه کښې شو.

۱۰_ د مسیح لپاره د زړي ورکولو په خاطر،

الف) د هغه قدرت څخه کار واخلو چې مسیح یې راکوي.

ب) د خپل شخصي قدرت څخه کار واخلو.

۱۱_ خبردار چې څوک مو اسیران نکړي.

الف) په اوسپنیزو درنو زنځیرونو.

ب) په غلطو او دروغجنو حکمتونو او لاربنوونو.

۱۲_ په نورو رحم کول په دې خاطر دی چې:

الف) هغوی ممکن له تاسو سره د حسابونو د تصفیې هڅه وکړي.

ب) تاسو په آسمان کښې خپل مالک لرئ.

د کولوسیانو د کتاب لنډه څیړنه او مطالعه په دې ځای کښې پای ته ورسیده. د زیاتې مطالعې لپاره کولای شئ چې د دې رسالې تړاو د مقدس کتاب د ټولو کتابونو سره پرتله کړئ او هغه وڅیړئ. تاسو به داسې ډېر نور ارزښتناکه حقایق پیدا کړئ چې ستاسو وقف شوی ژوند پرې بډای شي. مالک خدای دې تاسو ته د کولوسیانو د کتاب اود مقدس کتاب د نورو کتابونو په لوستلو کښې د دغو قواعدو په کارولو سره برکت درکړي. آمین

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱ـ د ټول مقدس کتاب سره پېژندګلوي، د غلطو تعلیماتو پېژندنه او د هغه سره مقابله او بل دا چې د خدای ژوندی کلام په تاسو کښې ځای نیسی.

۲ـ لوستل او لیدل، تفسیر، په عمل کښې پلي کول. تاسو کولای شئ نوری هغه ګټې هم ولیکئ چې د تجربی د لارې مو زده کړي دي.

۳ـ ج) خواشینتیا، پولوس له مسیحیانو سره مینه درلوده (۱: ۳ "د هغوی څخه شکرګزاره ده" ۱: ۹ "همیشه د هغو لپاره دعا کوي") د هغو لپاره کړاوونه تېروي او زورول کېږي (۱: ۲۴). د

هغوی لپاره په ډیره سختی کار کوی (۲: ۱). او
هغوی په ایمان کښې تشویقوي (۲: ۲).
۴_ الف) مسیح زمونږ د ژوند کیلي (چابي)ده (۲: ۳).
مسیح اته دیرش ځله د مسیح په نوم یاد
شوی دی. او دولس وارې د عیسی ، خدای
او زوی په نوم، او څو ځله د "هغه" او "په
هغه کښې" یاد شوی دی.
۵_ الف) ختنه (سنت)، دفن یا خښول، مرګ ټول د
بېلتانه په معنی دي.
ب) وجود ، سر ، نوې جامې.
۶_ الف) تکرار
ب) دلائل او نتائج
ج) تضاد او پرتله
۷_ ایمان، په فضل خلاصون، فخر، خدای، عیسی مسیح، پیدا .
۸_ ستاسو خپل ځواب: ممکن ستاسو ځواب داسې وي چې د کولوسیانو د کتاب مطالعې تاسو سره مرسته وکړه ترڅو په دې پوه شئ چې څومره کولای شئ په مسیح کښې کامل ژوند ولرئ. تاسو یو داسې حقیقت درک کړی دی چې کولای شئ د نورو په تعلیم کښې هغه وکاروئ.
۹_ الف
۱۰_ الف
۱۱_ ب

۱۲_ ب

# ستاسو یادداشت

شپږم لوست

# دمقدس کتاب د موضوعي لوستنې طريقه

پولوس د کولوسيانو په ليک کښې د دعا په هکله داسې فرمائيلی دی."په دعا کښې مشغول او بيدار اوسئ او شکرګزاری کوئ" (کولوسيان ۴: ۲). وروسته بيا د مسيحيانو نه غواړي چې هغۀ او د هغۀ د ملګرو لپاره دعا وکړي. پولوس د خدای څخه غوښتنه کوي چې د هغوی لپاره د انجيل د وعظ زمينه مساعده کړي.

د دې مطلب د پوهيدلو لپاره چې ولې پولوس وويل چې مسيحيان دې په دعا کښې ټينګار کول هير نکړي، هوښيار او شکرګزاره و اوسي او د دعا په ترڅ کښې دی د خاصو مطالبو غوښتونکي شي، مونږ يوه موضوعي مطالعه تر سره کوو. هر کله چې په خپل مسيحی ژوند کښې په يو ټکي ښه نه پوهيږئ او هغه نشئ درک کولی، نو هغه په موضوعي توګه مطالعه کړئ. ښايي تاسو وغواړئ چې په ايمان کښې د ژوند کولو په معنی ځان پوه کړئ، ښايي تاسو دې ته اړتيا ولرئ چې د روح القدس بپتسمه واخلئ. آيا پوهيږئ چې تاسو په مسيح کښې د کوم شخصيت درلودونکي ياست؟ څرنګه کولای شئ چې يو

پاک او مقدس ژوند خپل کړئ؟ موضوع چې هر څه وي خو د هغې په هکله مطالعه د خدای نقشه تاسو ته په ښه او زياته توګه څرګندوي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به يې ولولئ

- ❖ د موضوعي مطالعې ګټې
- ❖ د موضوعي مطالعې طريقې
- ❖ د دعا موضوع

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

د موضوعي مطالعو ارزښت بيان کړئ.
د دعا په اړه موضوعي مطالعه د نورو مطالعاتو لپاره د نمونې په توګه په نظر کښې ونيسئ.

## د موضوعي مطالعې ګټې

مخکې مو د موضوعي مطالعې يوه ګټه بيان کړه. چې د هغې د لارې تاسو پوهېدلای شئ چې څرنګه مسيحي ژوند بايد ولرئ. ممکن وغواړئ چې دخپل خلاصون په هکله ځان ډاډه کړئ. يا په هغه وبرې باندې برې حاصل کړئ چې له تاسو سره ده. او يا غواړئ چې د خدای اراده وپيژنئ. تاسو کولای شئ چې ددې ټولو مطالبو په اړوند ځانله ځوابونه پيدا کړئ په مقدس

کتاب کښې ځينې ځانګړې برخې شته چې د دې مطالبو په اړوند تاسو ته تعليم درکوي.

د موضوعي مطالعې بله ګټه دا ده چې تاسو سره مرسته کوي چې د خدای د کلام د هرې اصلي موضوع د تعليماتو څېړنه وکړئ. اصلي موضوعات د خدای د کلام بنيادي ستنې دي چې خدای غواړي د هغې په مطابق ژوند وکړئ. مقدس کتاب وائي: "کوم کلام چې هغه ته ورزده کړی شوی دی، هغه دې د دې لائق وي، چې خلک په هغه باور کولی شي. نو په کار دي چې مشر په دې کلام قايل وي چې هغه په صحيح تعليم ورکولو نصيحت هم کولی شی، او مخالفان قايل کولی هم شی" (تيطوس ۱ : ۹).

کله چې يو حقيقت مو له بيلابيلو اړخونو څخه وڅېړه او يو آيت مو له بل آيت سره پرتله کړ، کولای شئ چې د خدای کلام په هغه شان تفسير کړئ چې خدای له تاسو څخه تمه لري.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱ـ د موضوعی مطالعې لپاره دوه دليلونه بيان کړئ.

## د موضوعي مطالعې طريقې

موضوعي لوستنه ممکن کم او يا زيات وخت ونيسي. ځينې موضوعات لکه روح القدس او خلاصون د خدای د کلام په ډيرو برخو کښې ليکل شوي دي، د مقدس کتاب څېړونکو او مفسرينو چې د يوې موضوع په هکله يې کتابونه ليکلي دي، کله کله يې خپل کلونه کلونه وخت د هغې پام وړ موضوع په څېړنې کښې تېر کړيدي.

**لومړی ګام:**- ټول هغه آيتونه چې ستاسو دپام وړ موضوع په حواله دي هغه وليکئ او يادداشت يې کړئ. (د مقدس کتاب دا آياتونو قاموس يا کشف الايات د هرې موضوع په هکله آيتونه لري.) آيت او په مقدس کتاب کښې د هغې موقعت په خپلې کتابچې کښې يادداشت کړئ.

**دوهم ګام:**- سره ورته يا مشابه آيتونه په ګروپونو وويشئ او د هر ګروپ لپاره يو عنوان او يا يو نوم وليکئ.

**دريم ګام:**- د هر ګروپ اصلي موضوعات خلاصه کړئ. د دې کار د سرته رسولو لپاره هر آيت په غور سره ولولئ ترڅو په دې باوري شئ چې د هغې په صحيح معنی پوهېدلي يئ. که چيرې مو وليدل چې دا به ښه وي چې دګروپونو نومونه بدل

شي، د مقدس کتاب په مطابق هغه بدل کړئ او په خپل بيان سره د هغې لنډيز وليکئ.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۲ـ د موضوعي لوستنې درې ګامونه وليکئ.

## د دعا موضوع

دعا د مقدس کتاب يوه ډېره مهمه موضوع ده. د دعا کلمه په مقدس کتاب کښې د ۵۰۰ ځله څخه زيات تکرار شوې ده. ددې آيتونو څخه ځينې مونږ د خپلې مطالعې لپاره غوره کړي دي. تاسو کولائ شئ چې نور آيتونه هم پيدا کړئ، او زمونږ سره يوځای دغه مطالعه په شخصي توګه پر مخ يوسئ.

تمرينونه به تاسو سره مرسته وکړي چې خپل پرمختګ وڅېړئ. کولای شئ چې د لاندينې جدول په شان ځانله يو جدول جوړ او آيتونه طبقه بندي کړئ.

| د آيتونو موقعت | د آيتونو طبقه بندی | لنډ يادداشت |
| --- | --- | --- |
| | | |
| | | |
| | | |

لومړی باید د دعا په اړوند ټول آیتونه پیدا کړئ. د هرې حوالې ترڅنګ په مکمله توګه پخپله آیت ولیکئ. هغه آیتونه چې د دعا په اړوند د مطالعې لپاره د هغی نه استفاده کوو دا دي:

پیدایښت ۲۰: ۱۷–۱۸ او ۲۵: ۲۲–۲۳

اول سموئیل ۱: ۱۰_۲۰

دوهم سموئیل ۷: ۱۸–۲۹

اول بادشاهان ۱۸: ۳۶–۳۸

دوهم تواریخ ۲: ۱۲–۴۲

نحمیا ۱: ۵–۱۱

زبور ۴: ۳ او ۲۳: ۱ او ۹۵: ۲

امثال ۱۵: ۸ او ۲۸: ۹

یشیعاه ۱: ۱۵–۲۰ او ۳۸: ۱–۲۰ او ۵۲: ۷ او ۵۹: ۲

ارمیا ۱۴: ۱۱ او ۳۳: ۳

دانیال ۹: ۳ او ۲۱: ۲۳

یونس ۲: ۷

متی ۵: ۴۴–۴۵ او ۲: ۱–۱۴ او ۱۴: ۱۹ او ۲۳ او ۱۸: ۱۹–۲۰ او ۱۹: ۱۳–۱۵ او ۲۶: ۳۶–۴۴

مرقوس ۱: ۳۵ او ۲: ۴۲ او ۱۱: ۲۴–۲۵

لوقا ۳: ۲۱–۲۲ او ۵: ۱۲ او ۲: ۲۸ او ۹: ۲۸–۳۶ او ۱۰: ۲ او ۱۱: ۱–۱۳ او ۱۸: ۱ او ۷ او ۱۰: ۱۴

یوحنا ۱۵: ۷ او ۱۷: ۱–۲۶

اعمال د رسولانو ۱: ۱۴، ۲۴؛ ۴: ۲۹؛ ٦: ٦؛ ۸: ۱۵، ۲۲؛ ۹: ۴۰؛ ۱۰: ۱، ۲، ۹، ۳۱ او ۱۲: ۲۵

رومیان ۸: ۲۲ – ۲۷، ۱۰: ۱، ۱۲: ۱۲ او ۱۵: ۳۱

اول کورنتیان ۱۴: ۱۳–۲۵

دوهم کورنتیان ۱: ۱۱

افسیان ۳: ۲۰ او ٦: ۱۸–۲۰

فلیپیان ۱: ۱۹ او ۴: ٦

کولوسیان ۴: ۲–۴

اول تسالونیکیان ۳: ۱۰ او ۵: ۲۵

دوهم تسالونیکیان ۳: ۱–۲

اول تیموتیوس ۲: ۱–۸، ۴: ۴ او ۵: ۵

عبرانیان ۵: ۷، ۱۰: ۲۲، ۱۱: ٦ او ۱۳: ۱۸

یعقوب ۱: ۵–۸، ۴: ۳ او ۵: ۱۳–۱۷

اول پطرس ۴: ۷

اول یوحنا ۳: ۲۰–۲۲ او ۵: ۱۴–۱٦

یهوداه ۲۰

مکاشفه ۵: ۸

ځانونه ډاډه کړئ چې د دې آیاتو په هکله مو کافي توضیحات لیکلي دي. د مثال په توګه: د اول سموئیل ۱: ۱۰–۲۰ د پاره ممکن ولیکئ: «حنا د یوی اوږدې مودې لپاره خپل مالک خدای ته دعا وکړه .... څنګه چې زه ډیر عاجز

او بې وزلې یم نو دا ډول دعا کوم .... **خدای پاک هغه ته ځواب ورکړ .... او هغه د ځوی خاوند شو**».

په دوهم ګام کښې آیتونه په ګروپونو ویشو او طبقه بندي کوو.

## د کومو کسانو لپاره دعا وکړو؟

متی ۵: ۴
اعمال د رسولانو ۲: ۲
افسیان ۲: ۱۸
اول تسالونیکیان ۵: ۲۵
تیموتیوس ۲: ۱–۲
یعقوب ۵: ۱۲

- خپلو اولادونو ته دعا وکړئ.
- هغه کسانو ته دعا وکړئ چې په روحاني لحاظ ورک شویدي.
- د خدای د کلام د لوستلو پر وخت دعا وکړئ.
- ناروغانو لپاره دعا وکړئ.
- کله چې محتاجه یئ دعا وکړئ.

## څه وخت دعا وکړو؟

اول سموئیل ۱: ۱۰ او ۱۲
متی ۲۲: ۳۶_۴۴
مرقوس ۱: ۳۵

لوقا ۵: ۱۶ او ۱۸: ۷
رومیان ۱۲:۱۲
افسیان ۶: ۱۸
اول تسالونیکیان ۳: ۱۰
اول تیموتیوس ۵: ۵

## په دعا کښې خنډونه

امثال ۱۵: ۸ او ۲۸: ۲۹
یشیعاه ۱: ۱۵ او ۵۹: ۲
متی ۶: ۵
لوقا ۱۸: ۱۰–۱۴ او ۲۰: ۴۷
یعقوب ۱: ۶–۸ او ۴: ۳

## د دعا مکانونه

یشیعاه ۵۶: ۷
متی ۱۴: ۲۳
مرقوس ۶: ۴۶
لوقا ۹: ۱۸
اعمال د رسولانو ۱: ۱۴ او ۱۰: ۹
اول تیموتیوس۲: ۸.

## د دعا ځوابونه

پیدایښت ۲۰: ۱۷–۱۸ او ۲۵: ۲۲–۲۳

دانیال ۹: ۲۱–۲۳

یوحنا ۲: ۷

اعمال د رسولانو ۴: ۲۹–۳۰، ۸: ۱۷ او ۱۰: ۳۱

دوهم کورنتیان ۱۲: ۸–۹

## د دعا غوښتنې او درخواستونه

اول باداشاهان ۱۸: ۳۶–۳۸

نحمیا ۱: ۵–۱۱

زبور ۲۴: ۱

یشیعاه ۳۸: ۲–۵

متی ۲۲: ۴۱

لوقا ۲۲: ۳۲

یوحنا ۱۷: ۱–۲۶

اعمال د رسولانو ۱: ۲۴، ۴: ۲۹، ۸: ۱۵، ۲۲ او ۹: ۴۰

رومیان ۱۰: ۱ او ۱۵: ۳۱

افسیان ۲: ۱۸

یعقوب ۱: ۵ او ۵: ۱۳–۱۴

## څه ډول دعا وکړو؟

ارمیا ۳۳: ۳

متی ۲: ۷–۱۴، ۱۸: ۱۹–۲۰ او ۲۲: ۳۹
مرقوس ۱۱: ۲۴–۲۵
لوقا ۱۱: ۵–۱۳، ۱۸: ۱ او ۱۰_۱۴
یوحنا ۱۴: ۱۳–۱۴ او ۱۵: ۷
رومیان ۸: ۲۲–۲۷
اول کورنتیان ۱۴: ۱۳–۲۵
فلیپیان ۴: ۶
کولوسیان ۴: ۲
اول تیموتیوس ۲: ۸
عبرانیان ۵: ۷، ۱۰: ۲۲ او ۱۱: ۶
اول پطرس ۴: ۷
یهوداه ۲۰
اول یوحنا ۳: ۲۰_۲۲ او ۵: ۱۴_۱۵

## ستائنه او شکرګزاري

دوهم سموئیل ۷: ۱۸–۲۹
یشیعاه ۳۸: ۱۰–۲۰
متی ۱۴: ۱۹
اعمال د رسولانو ۱۰: ۱ – ۲ او ۱۲: ۲۵
اول تیموتیوس ۴: ۴
یعقوب ۵: ۱۳

## د دعا حالت

اول بادشاهان ۸: ۲۲

زبور ۹۵: ۶

ارمیا ۳۳: ۳

دانیال ۹: ۳

متی ۱۹: ۱۳–۱۵ او ۲۲: ۳۹

مرقوس ۱۱: ۲۵

لوقا ۱۸: ۱۳

اعمال د رسولانو ۸: ۱۷ او ۹: ۴۰

اول تیموتیوس ۲: ۸

یعقوب ۵: ۱۴

## د دعا آغیزې (اثرات)

امثال ۱۵: ۸

لوقا ۳: ۲۱–۲۲ او ۹: ۲۸–۳۵

دوهم کورنتیان ۱: ۱۱

افسیان ۳: ۲۰

فیلیپیان ۱: ۱۹

یعقوب ۵: ۱۶ – ۱۷

مکاشفه ۵: ۸

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۳_ د لاندیني آیتونو څخه کوم یو د دعا پورې اړه لري؟

الف) اول پطرس ۳: ۷

ب) اول پطرس ۳: ۹

ج) اول پطرس ۳: ۱۲

د) اول پطرس ۳: ۱۷

۴_ دا لاندې آیتونه د کومې لاندینۍ موضوع پورې اړه لري.

| | |
|---|---|
| الف) زبور ۲۲: ۱۸ | ۱- ستاینه او شکرګزاري |
| ب) متی ۷: ۷ – ۱۱ | ۲- د دعا موانع |
| ج) مرقوس ۲: ۴۱ | ۳- څه قسم دعا وکړو؟ |
| د) اول تسالونیکیان ۵: ۱۷ | ۴- د دعا اغیزی |

۵- څه وخت دعا وکړو؟

اوس کولای شو د دعا پورې اړوند اصلی موضوعات د آیتونو د تنظیم او طبقه بندۍ نه وروسته خلاصه کړو. د خدای د کلام ډېر ښه مفسر پخپله مقدس کتاب دی. اجازه ورکړئ چې د خدای کلام تاسو سره خبرې وکړي، او ستاسو سوالونو ته ځواب ووایی.

**هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ**

۵_ د دې موضوع په اړوند چې "د چا لپاره دعا وکړو؟" آیتونه ولولئ او د صحیح عبارت مخ ته (✓) نښه ولیکئ.

الف) د رهبرانو لپاره دعاکول، یوائی هغه وخت چې خدای پیژندونکي وي.

ب) په ټوله نړۍ کښې د خدای د قوم لپاره دعا.

ج) د دښمنانو لپاره دعا.

۶_ د "څه وخت دعا وکړو؟" پورې مربوط آیتونه ولولئ بیا وواياست چې په لاندې ځوابونو کښې کوم یو لاندینی عبارت پوره کوي:

مونږ باید ........................................ دعاوکړو.

الف) شپه او ورځ

ب) په دوامداره توګه

ج) د خپلو احساساتو په پام کښې نیولو پرته

۷_ د دعا کولو لپاره یو بل دلیل هم لرو چې په زبور ۱۲۱: ۴ کښې لیکل شوي دي. هغه ولیکئ؟

۸_ آیا کله کله مونږ د خپلو هغو دعاګانو ذمه وار نه یو چې د هغې ځواب مو نه وي ترلاسه کړی؟ د خدای کلام په دی هکله هم مونږ سره خبرې کوي. هغه آیتونه چې د دعا د خنډونو په هکله دي ولولئ. د هغو عبارتونو مخې ته چې د دعا د قبلیدو خنډونه په ګوته کوي د (✕) علامه ولیکئ.

الف) نافرماني او یا زمونږ په ژوند کښې پټې ګناوې.

ب) د خودخواهۍ او شخصي خواهشاتو د حاصلولو لپاره دعاکول.

ج)  ممکن زمونږ د پلرونو او نیکونو د ګناهونو په وجه زمونږ دعا قبوله نشي.

۹_ دغه آیتونه چې په دې درس کښې بیان شول هغه بشپړ نه دي. د مقدس کتاب داستانونه هم د هغه ځایونو په اړوند چې خلکو هلته دعاګانې کړي دي مونږ ته یو په زړه پوری تصویر راکوي. لکه یونس چې د کب په ګیډه کښې یی خدای ته عذرو زاری وکړې. هغه آیتونه چې د "دعا د ځایونو" په اړوند دي هغه ولولئ او د لاندینی صحیح عبارت مقابل ته د (✓) علامه ولیکئ.

الف) کلیسا د دعا کولو لپاره ډېر ښه ځای دی.

ب)  که په ریښتیا د دعا د ځواب او قبول په لټه کښې يئ، نو په یواځې توګه دعا وکړئ.

ج)  هر ځای دعا کولی شو او خدای یی اوري.

۱۰_ د دعا ځوابونه: د دعا د قبلونې لپاره د خدای ځواب فرق کوي. بعضی دعاګانې سمدستي قبلېږي او ځینې نور وخت غواړي. خلک شفا مومي، همدارنګه اوږد ژوند، بخشش، مرسته، او اولادونه د دعا د لارې لاس ته راوړي،چې دا د هغوی د سوالونو لپاره قناعت بخښونکی ځواب دی.

د خدای د ورکړې لپاره هېڅ حد او اندازه نشته. د خدای د کلام په مطابق دغه جمله څه ډول بشپړوئ؟ د صحیح عبارت مخی ته د (✓) علامه ولیکئ. ځینی خلک د دعا نه داسې ځوابونه لاس ته راوړي چې د هغه څه نه چې هغوی تمه لري متفاوته دي .

الف) او ځينې نور هيڅکله د خپلې دعا ځواب لاس ته نه راوړي.

ب) مګر خدای پاک ټولو دعاګانو ته ځواب ورکوي.

ج) نو په دې توګه ښايي هغوی ايمان ونه لري.

۱۱_ د دعا درخواستونه او غوښتنې هم يو د بله سر فرق لري. خلک د معجزاتو، شفا، د روح القدس د تعميد، الهی لارښوونې، زيات ايمان او مادي اړتياو د پوره کولو سوالونه کوي. ښايي هغه څه چې تاسو ډيرزيات د هغې په لټه کښې يئ مونږ نه وي بيان کړي. مګر تاسو کولائ شئ چې د ايمان په وسيله هغه ترلاسه کړئ.

خپلې غوښتنې او درخواستونه وليکئ، او د هغی مربوط آيتونه د باوري سرچينې په توګه يادداشت کړئ.

۱۲_ څرنګه دعا وکړو؟ مونږ بايد خپلې ټولې اړتياوې د مسيح په نوم خدای ته وړاندې کړو. بايد د زړه له کومې څخه وغواړو چې زمونږ باطن له ګناه څخه پاک شي، لکه د نورو ګناهونه نه بخښل. د "دعا د څرنګوالي" په اړوند يو آيت دی چې مونږ ته د نمونې حثيت لري. دا نمونه معمولاً په کوم نوم يادوو او کوم ځای کښې ليکل شوې ده؟

۱۳_ کله چې د خدای په نېکيو او ښېګڼو باندې سوچ کوو، زمونږ زړونه د شکرګزارۍ او ستاينې نه ډکېږي. همدارنګه مقدس کتاب هم مونږ هڅوي ترڅو د خدای لپاره د ستاينې او شکرګزارۍ سندرې، او سرودونه ووايو. لاندينی آيت چې د

شکرګزارۍ او ستاینې په هکله ویل شوي دي بشپړ کړئ او د
هغې ځای هم ولیکئ.
په نیمو شپو کښې ..................................

۱۴ـ ددعا په وخت کښې زمونږ حالت اختیاري دی او په مونږ
پورې اړه لري. ځینې کسان د دعا پر وخت ودرېږي، ځینی نور
خپل لاسونه پورته کوي او ځینی هم په زنګنونو کښینی او یا
کېدای شي دغه ټول کارونه د دعا په ترځ کښې سرته ورسوي.
وروسته له دې څخه چې د دعا د حالت په اړوند آیتونه مو
ولوستل ووایئ چې ددې لاندیني عبارتونو څخه کوم یو صحیح
دی؟

الف) په دعا کښې زمونږ حالت باید د پخوانیو
دودونو او رواجونو په مطابق وي.

ب) مقدس کتاب د دعا پر وخت زمونږ د حالت
په اړه کوم خاص قواعد نه دي ټاکلي.

**۱۵ـ د دعا اغیزې**: دعا طاقتوره ده. مونږ خدای ته نږدې
کوي، او د مسیح په شان مو بدلوي، او د روح القدس قدرت
په مونږ کښې آزادوي. زمونږ دعاګانی خدای لپاره ډیر د
اهمیت وړ دي. کوم آیتونه مونږ ته دا په ډاګه کوي چې زمونږ
دعاګانې لکه د عطرو په شان خدای ته خوشبویه دي.

د دی برخې په لوستلو سره په دې پوه شوئ چې دعا د
خدای سره زمونږ د مشارکت سبب ګرځي. تاسو هغه سره خبرې
کوئ او پوښتنې ترې کوئ او هغه تاسو ته ځوابونه درکوي. د

دعا په اړوندد مقدس کتاب د تعليماتو د پکارولو سره به ستاسو ژوندون بدلون ومومي او دا وړتيا به پيدا کړئ ترڅو د مسيح د انجيل په هکله له نورو سره خبرې وکړئ. د دعا په اړه خپلو زده کړو ته دوام ورکړئ او په کلام کښې د نورو موضوعاتو په لوستلو سره د دعا په اړوند نور آيتونه پيدا او زده کړئ، ځکه د مقدس کتاب موضوع ګانې له يوبل سره نغښتي دي. همدارنګه د دعا په هکله د نورو خلکو د تجربو اوريدلو ته هم څه وخت ځانګړی کړئ.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ موضوعي لوستل او مطالعه مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه ځوابونه پيدا کړو چې مونږ ورته اړتيا لرو. او همدارنګه مونږ سره مرسته کوي چې د مقدس کتاب د حقايقو څېړنه وکړو.

۲ـ د مقدس کتاب آيتونه وليکئ.

آيتونه طبقه بندي کړئ.

د اصلی ټکيو لنډيز وليکئ.

۳ـ الف) اول پطرس ۳: ۷

ب) اول پطرس ۳: ۱۲

۴ـ الف) ۲

ب) ۳

ج) ۱

د) ۵

۵_ الف) غلط
ب) صحیح
ج) صحیح
۶_ الف، ب او ج
۷_ خدای هیڅکله خوب نه کوي او نه ویده کیږي.
۸_ الف او ب
۹_ ج
۱۰_ ج
۱۱_ ستاسو ځواب: د حکمت لپاره دعا وکړئ. د یعقوب ۱: ۵ په مطابق.
۱۲_ د مالک خدای دعا؛ متی ۶: ۹ – ۱۳.
۱۳_ په نیمو شپو کښې کله چې پولوس او سیلاس په دعا او په سرود ویلو بوخت وو. او نورو خلکو هم ورته غوږ نیوۀ. اعمال د رسولانو ۱۶: ۲۵
۱۴_ ب
۱۵_ مکاشفه ۵: ۸

# ستاسو یادداشت

اووم لوست

# د مقدس کتاب د شخصیتونو د مطالعې لارښود

په هر ځای کښې خلک، که زاړه وي او که ځوانان، له داستانونه سره مینه لري. قیصې او داستانونه مونږ مشغولوي او زمونږ د خوشحالۍ سبب ګرځي. خو کیدای شي چې تعلیمی او زده کوونکې ښه هم ولري. مونږ ښې قصې هیڅکله نه هېروو. عیسی مسیح په دې پوهیدۀ چې یو قصه څومره ارزښت او قیمت لري، او د هغو څخه په استفادې سره یې روحاني ژور حقیقتونه بیان کړل.

د شکرګزارۍ د دلایلو څخه یو دا دی چې مالک خدای د مقدس کتاب ډیر درسونه مونږ ته د داستان او قیصی په قالب کښې بیان کړل. د دې داستانونو او قصو اتلان هغه واقعي سپیڅلي خلک دي چې په تیرو زمانو کښې یې د زمکې پر مخ ژوند کړی دی. هغوی زمونږ په شان د ورته ستونزو او مشکلاتو سره مخامخ شوي وو.

د موسی، داؤد او پطرس په شان شخصیتونه د غلطیو په جال کښې ښکیل شوی وو، او د خپلو غلطیو څخه یی

درسونه اخیستي وو. اوس کولائ شو هغه څه مطالعه کړو چې هغوی ته وړپېښ شوي وو. او د هغوی د تجربو څخه ګټه واخلو. او همدارنګه د هغوی د کامیابیو او بریالیتوبونو په لوستلو سره مونږ په خپل ایمان کښې قوت او مضبوطتیا پیدا کوو.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- ❖ د مقدس کتاب د اتلانو د مطالعې هدف
- ❖ د مقدس کتاب د اتلانو د مطالعې طریقه
- ❖ د یعقوب داستان

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

دا شرحه کړئ چې ولی د مقدس کتاب د اتلانو مطالعه ستاسو د ژوند لپاره اهمیت لري.

د یعقوب د ژوند مطالعه د یوی نمونې په ډول د خپلو نورو مطالعاتو لپاره په نظر کښې وساتئ.

### د مقدس کتاب د اتلانو د مطالعې هدف

په مقدس کتاب کښې د ۲۹۰۰ تنو بېلابېلو شخصیتونو ذکر شوی دی. سره ددې چې د ځینو یواځې نوم اخیستل شوی دی، مګر د ځینو نورو د ژوندون په هکله تفصیلي بیان وړاندې کېږي. د هغوی د ژوند څېړنه زمونږ د مطالعې ځانګړې

موضوع ده. د شخصیت په مطالعه کولو سره د هغه د ژوند په تاریخ باندې رڼا اچوو. او ګورو چې هغه څوک ؤ، څه یې وکړل، او د څه ډول شخصیت درلودونکی ؤ.

د مطالعې دغه طریقه د کوچنیانو د زده کړې لپاره ډېره ګټوره ده. کوچنیان په ډیر غور سره د موسی د کوچني والي قصه چې په یوې ټوکرۍ کښې پروت ؤ، د داود مقابله له قوي هیکله جلیات سره، د روت وړیې ټول او په اخور کښې د عیسی مسیح کوچنیوالی قصې ته غوږ نیسي. کوچنیان په ډیره اسانۍ سره خپل ملګري په مقدس کتاب کښې پیدا کوي او له هغو سره پېژندګلوي حاصلوي او هغه د خپلې لارې لارښود جوړوي. هغوی د خدای د ارادې په هکله چې د هغوی د ژوند لپاره یې لري، ډیر مهم درسونه زده کوي.

لویان هم د مقدس کتاب د شخصیتونو په تجربو کښې برخه اخلي او ورشریک کیږي. په ځانګړې توګه هغه کسان چې د کمزورتیا او شکونو سره سره یې لکه د ټولو خلکو پلټنه کړې وي.

اګرکه د مقدس کتاب ځینی اتلان او شخصیتونه ظاهراً پوره او کامل ښکاره کېدل خو هغوی په حقیقت کښې کامل نه وو. یعقوب دغه موضوع داسې روښانوي او وائي "الیاس زمونږ په شان انسان وو، هغهٔ په ډیر جوش سره دعا وغوښته چې باران

دې ونه وربږي ځکه خو درې نیمو کالو پورې په مزکه باران ونه وریدلو" (یعقوب ۵: ۱۷).

د الیاس عاطفه او احساس هم زمونږ په څیر ؤ. زمونږ دعاوې هم که چیرې د ایمان په سبب وي نو کیدای شي چې د الیاس د دعا په څیر آغېزمنې وي. حضرت داؤد پر خدای باندې ډېر ګران ؤ او د هغهٔ د زړهٔ په نوم یاد ېدهٔ. خو سره د دې هم هغهٔ په یو ځای کښې دروغ وویل، زنا، او قتل یې وکړ. دا په دې معنی نه ده چې ګنهي خدای د هغهٔ له ګناهونو څخه راضي او خوشحاله ؤ. بلکه داؤد د خدای محبوب او د خدای زړه ځکه ؤ چې له خپلو ګناهونو څخه یې توبه وکړه او د خدای بخښنه یې ترلاسه کړه. هغه د خپلو تیروتنو او غلطیو څخه دا زده کړل چې خدای ته تسلیم شي.

د داؤد د ژوندون څخه دا زده کوو چې د هغه تیروتنې باید مونږ تکرار نه کړو. د هغهٔ ماتې یا شکستونه لکه د یوهٔ برېښ په شان دي چې د شپې په تیارو کښې ښکاره شي. چې مونږ ته دا خبرداری راکوی ترڅو دعا وکړو او د وسوسو په دام کښې ښکیل نشو.

په همدې اساس مقدس کتاب د خپلو اتلانو د ژوند په مطالعې ټینګار کوي او وائي. "په هغوی دا خبرې زمونږ د عبرت اخستو دپاره راغلی او زمونږ د آخری زمانی خلکو ته د نصیحت دپاره ولیکل شوې" (اول کورنتیان ۱۰: ۱۱).

ټولې دغه پېښې د نمونو په څېر په هغوی تیرې شوې وې او زمونږ د تربیې لپاره د عبرت په توګه ولیکل شوې.

پلار، مشران او زمونږ نیکونه مونږ ته ښه ښه نصیحتونه کوي. هغوی د هوا، کښت او کار، څارویو، تجارت او خلکو په هکله په ډېرو حقیقتونو پوهېږي. معمولاً د دغو مطالبو زده کول د داسې باتجربه کسانو د لارې آسانه وي نسبت له دې چې هغه په کتابونو کښې ولټوو او ولولو. په همدې دلیل مقدس کتاب د قوانینو یوه مجموعه نه ده، بلکه د دې پرځای زیاتره مطالب یې د واقعي خلکو د تجربو بیانونکي دي چې خدای د هغوی په ژوند کښې په څه ډول کار کړی ؤ. مونږ باید د پوهې د ترلاسه کولو او د خپل روحاني ژوند د بیا رغونې لپاره د هغو شخصي تجربې تر مطالعې لاندې ونیسو.

د یعقوب د ژوند په څېړنې کښې وګورئ چې څو ځله تاسو کولای شئ یو نوی حقیقت زده کړئ او یا عملي مرسته ترلاسه کړئ.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۱ـ د صحیح عبارت مخې ته د (✓) نښه ولیکئ.
ولې د شخصیتونو او اتلانو د ژوندون مطالعه ضروري ده؟

الف) څکه د مقدس کتاب د نومونو په وسیله کولای شو په ښه توګه د خلکو سره اړیکې ولرو.

ب) ټول کولای شي چې د نورو خلکو د تیروتنو څخه یو څه مطالب زده کړي.

ج) کولای شو چې په دې خبرې مغروره شو چې هغه تېروتنې او خطاګانې چې د مقدس کتاب شخصیتو- نو سرته رسولي دي مونږ یې هېڅکله نه ترسره کوو.

د) د مقدس کتاب د شخصیتونو د ژوند قیصې او داستانونه هم د کوچنیانو او هم د لویانو لپاره دي. او کولای شو د هغې څخه څه زده کړو.

## د مقدس کتاب د اټلانو د مطالعې طریقه

د هغه کس د غوره کولو څخه وروسته څوک چې غواړئ د هغه ژوند وڅېړئ، باید د هغهٔ په اړوند ټول آیتونه پیدا کړئ. دغه کار په موضوعي مطالعې کښې هم سرته رسوئ. ځینې څېړنې ډیرې لنډې وي او ځینی بیا ډیر وخت نیسي. د بیلګی په توګه د استر د ژوند حالت یوازی د استر په کتاب کښې بیان شوی دی. خو موسی په څلورو کتابونو کښې مرکزی شخصیت

دی. او دې نه علاوه په ۲۲ نورو کتابونو کښې هم د هغهٔ د نوم ذکر راغلی دی. هغه آیتونه چې په نورو برخو کښې ستاسو د نظر وړ شخصیت په هکله راغلي دي، هغه ولولئ. کېدای شي یو لنډ آیت تاسو ته د پام وړ شخصیت په اړوند په زړه پورې معلومات درکړي. باید پام وکړئ چې هغه آیتونه چې یو بل ته ورته نومونه بیانوي یو د بل سره غلط نکړئ. او د یو شخص په ځای د بل اتل ځانګړتیاوې تر څېړنې لاندې ونه نیسئ. د مثال په توګه په نوې لوظنامه کښې شپږ تنه د مریم په نامه وجود لري، او څلور تنه د یوحنا په نوم او درې تنه د یعقوب په نوم.

دوهم، آیتونه ولولئ او د اتل د ژوند، کار او د هغهٔ د نورو خصوصیاتو په هکله مهم ټکي یادداشت کړئ. د هر چا د ژوند جزئیات ولیکئ. تر هغه ځایه چې کولای شئ د هغهٔ د تېر ژوند په اړوند معلومات ترلاسه کړئ. د هغه نوم څه معنی لري؟ اصل او نسب يې کوم دی؟ د خپل ژوند لومړني کلونه یی چیرته تیر کړي دي؟ کوم مسائل د هغهٔ د ځوانۍ په دورې کښې مهمې اغیزې درلودې؟ د مثال په توګه تیموتیوس په یوې داسې کورنۍ کښې لوی شو چې د هغهٔ خدای پرسته نیا "لوئس" او مور یې "افنیکی" د هغهٔ په دینداریٔ او خدای پرستۍ کښې ژوره اغیزه درلوده.

د هغه کس دوستان او ملګري چې د هغهٔ د ژوند په اړه څېړنه کوئ، هم د یادداشت په توګه ولیکئ چې هغوی د هغهٔ د شخصیت په وده کښې څه ډول اغیزه درلوده؟ لکه د داؤد په

مطالعه کښې چې د هغهٔ د دوست "یوناتان" د ژوند ځیرنه ډیره ګټوره ده.

هغه ځایونه چې د مقدس کتاب نومیالي شخصیتونو هلته سفرونه کړي دي، او یا یې ژوند تیر کړی دی هم یادداشت کړئ. د بیلګې په توګه د موسی ژوند درې برخې لري. څلویښت کاله یې د مصر په شاهي کورنۍ کښې تیر کړل، بیا وروسته څلویښت کاله په مدیان کښې شپون ؤ او بیا یې څلویښت کاله د اسرائیلو قوم د وعده کړای شوې ځمکې لور ته رهبري کړ. په همدې ترتیب د پولوس ځینې لیکونه زمونږ لپاره ډیر دې معنیٰ وړ دي که چیرې داسې په نظر کښې ونیسو چې هغه یې له زندانه څخه لیکلي وو.

د مقدس کتاب نامتو شخصیتونه یو د بله سره څه فرق لري؟ پولوس، پطرس، او یوحنا د لومړنۍ کلیسا غښتلي او باقدرته رهبران وو. هر یو ځانله ځانګړي خصوصیات او خاص استعدادونه درلودل او مالک خدای د هغوی ټولو څخه استفاده وکړه ترڅو خپل حقایق بیان کړي. چې پولوس د ایمان د رسول، پطرس د امید او هیلې د رسول، او یوحنا د مینې او محبت د رسول په نامه پیژندل کیږي. مونږ د هغوی کمزرتیا او غښتلتیا په ښه توګه ګورو. څرنګه د هغوی ځینې ماتې خوړنو او شکستونو د هغوی په راتلونکي باندې اثر وکړ؟ هغه کسان چې تاسو د هغو د ژوند څیړل غواړئ خدای پاک له هغو سره څرنګه چلند وکړ؟

د اشخاصو په ژوند کښې مهمې پيښې وليکئ. د هغهٔ غبرګون د خوشحالۍ پر وخت او يا د ستونزو او مشکلاتو په موقه څه ډول وو؟ کوم بدلونونه په هغهٔ کښې منځ ته راغلل؟ دا پيدا کړئ چې هغهٔ په خپله زمانه کښې کوم ګټور کارونه ترسره کړي دي او زمونږ د نننۍ ژوند لپاره مونږ ته کومه زده کړه راکوي.

د دې ټکو د څېړنې او ارزيابۍ نه پس ټول هغه شيان سره راغونډ او يوځای کړئ چې د شخصيت د ژوندانه په اړه مو ترسره کړي دي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۲_ د لاندنيو عباراتو څخه کوم يو دا جمله بشپړه کوي؟
په مقدس کتاب کښې د يو شخص د هر اړخيزې او جامع مطالعې لپاره بايد ........................................

الف) هغه خواره واره آيتونه چې د هغه شخص په هکله موجود دي، ترڅيړنې لاندې ونيسو.

ب) د نومورې شخصيت د ژوند وروستنۍ برخه وڅيړو.

ج) د هغهٔ د شخصيتي ودې بېلابېل اړخونه وڅېړو.

د)   هغه کسان چې هغۀ ته ورته (مشابه) نومونه
لري هم تر څېړنې لاندې ونیسو.

د مهمو حقايقو څخه يو ګزارش جوړ کړئ.

۱) د شخصيت نوم.
۲) د هغۀ د نوم معنى او مفهوم.
۳) د زيږيدو ځاى او يا کورنۍ.
۴) د هغۀ د خپلوانو او دوستانو نومونه.
۵) په تاريخ کښې د هغه ځاى.
۶) د هغه شخصي خاصې ځانګړتياوې.
۷) کمزورتياوې.
۸) وړتياوې.
۹) مهمې پيښې.
۱۰) مهم کارونه.
۱۱) هغه درسونه او عبرتونه چې د هغه د ژوند څخه مو زده کړي دي.

## د يعقوب داستان

د يعقوب د ژوند داستان د مقدس کتاب د شخصيتونو د مطالعې لپاره ډير ګټور دى. هغه داسې يو کس دى چې ډير کمزورى شخصيت لري. کوشش کوي چې د نورو څخه ډېره ښه ګټه پورته کړي. د هغۀ نيمګړتياوې په مقدس کتاب کښې ثبت شوي دي.

مونږ هر یو د خپل شخصیت یوه برخه په یعقوب کښې وینو. د دې سره سره د خدای فیض او قدرت هغه د یو غولوونکي او فریبکار څخه په یو داسې شاهزاده بدل کړ، چې دخدای سره یې خاصې اړیکې لرلې (رومیان ۹: ۱۰ – ۱۳ ته یو ځل مراجعه وکړئ).

مقدس کتاب د یعقوب تجربې په مونږ ټولو پورې تړلي ګڼي. "نو دا بیا په خوښوونکي یا کوونکي پورې نه ده بلکه د خدای په رحم باندې ده" (رومیان ۹: ۱۶).

کله چې مونږ خدای ته اجازه ورکوو چې مونږ ته بدلون راکړي نو خامخا زمونږ لپاره یو امید شته دی.

د یعقوب او د هغه د ژوندون په مطالعه کښې لومړی ګام د هغه پورې د مربوطو آیتونو پیدا کول دي. د هغهٔ د ژوند قصه د مقدس کتاب په پیدایښت کښې د پنځه ویشتم باب څخه تر پنځوسم باب پورې ذکر شوی دی. البته د هغهٔ په هکله نور لنډ آیتونه هم په متی ۱: ۲ او ۸: ۱۱؛ لوقا ۱: ۳۲–۳۳؛ یوحنا ۴: ۵ –۶؛ اعمال د رسولانو ۷: ۸–۱۶ او ۳۲؛ رومیان ۹: ۱۱–۱۳؛ عبرانیان ۱۱: ۹ او ۱۳ او ۲۱ کښې موجود دي.

دوهم قدم، د یعقوب پورې اړوند آیتونه او برخې ولولئ او اساسي ټکي د یادداشت په توګه ولیکئ.

یعقوب د زیږیدنې پر وخت د خپل غبرګوني ورور د پوندۍ څخه ټینګ نیولی ؤ.د هغه نوم اکثراً غولوونکی او دوکه باز ترجمه شوی دی (پیدایښت ۲۵: ۲۵). د هغه پلار او مور اسحاق، او ربکا ده او نیکه یی ابراهیم دی چې د عبرانی قوم پلار ؤ. ابراهیم د نوح د نسل څخه ؤ چې د سام د اولادې څخه پیدا شوی ؤ (پیدایښت ۱۱: ۱۰-۲۲).

یعقوب د خپل مور او پلار او ورور عیسو سره ژوند کاوه. هغه ډیر آرام ؤ او مور یې ورسره ډیره مینه درلوده (پیدایښت ۲۵: ۲۷-۲۸). مګر ډیر چلباز وه (پیدایښت ۲۵: ۳۱-۳۴). هغه د خپل غبرګوني مشر ورور عیسو د مشرتوب حق په دوکې او چل سره غلا کړ. او په نتیجه کښې یې د عیسو برکت هم پټ کړ (پیدایښت ۲۷: ۳۳-۳۶).

د هغې څخه وروسته یعقوب د عیسو د غصې له ډاره له خپل کور څخه تیښته وکړه او حاران ته لاړه، ترڅو د خپل ماما لابان سره واوسیږی (۲۷: ۴۲-۴۳). دا ځل لابان هغه ته دوکه ورکړه، یعقوب غوښتل چې د (راحیل) سره واده وکړي. مګر لابان اول ورته (لیه) په نکاح کړه (۲۹: ۲۳) او په نتیجه کښې یعقوب دې ته اړ شو چې څوارلس کاله نور هم د لابان خدمت وکړي ترڅو راحیل لاس ته راوړي. او بیا شپږ کاله نور کار وکړي چې خپله پاده جوړه کړي (پیدایښت ۳۱: ۴۱). لابان هم لس ځله د یعقوب تنخواه ته تغیر ورکړ او خبره یی ورانه کړه (پیدایښت ۳۱: ۷).

د یعقوب د ژوند قصه په بېلابېلو ځایونو کښې ځرګندیږي. په بئرشبع کښې هغه یو ټګ او دوکه باز ؤ (پیدایښت ۲۸: ۱۰). په حاران کښې یې چې د خپل ماما لابان خدمت کاوه هم دوکه باز ؤ او هم په خپله دوکه شو (پیدایښت ۳۰: ۲۵–۴۳). د حبرون په ښار کښې د خدای سره د ملاقات نه وروسته چې په فنوئیل نومی ځای کښې تر سره شو، له هغهٔ نه یو سپیڅلی شخص جوړ شو (۳۷: ۱). او د خپل ژوند په آخرو کلونو کښې د مصر یو عزتمند او پوه شخصیت جوړ شو (پیدایښت ۴۲: ۳–۴). یعقوب ذاتاً دوکه باز ؤ خو سره ددې هم کله به چې ترې یوه تیروتنه او غلطی وشوه نو د خدای په وعده به یې تکیه کوله (پیدایښت ۲۵: ۲۳). هغه د مشرتوب او برکت په ارزښت باندې چې عیسو ورته اهمیت نه ورکاوه، ډېر ښه پوهېده (پیدایښت ۲۵: ۳۳–۳۴). هغهٔ روحانی ارزښتونو ته اهمیت ورکاوهٔ.

یعقوب د هغه خوب او رویا ښخه وروسته چې د خدای د وعدې په هکله یې ولید، په بیت ائیل کښې د خدای د عبادت لپاره یو ځای د یادګار په توګه جوړ کړ. چېرې چې خلکو به هلته د خدای عبادت کاوهٔ. او هغهٔ په ځان نذر ومنلو چې د خپلو مالونو لسمه برخه به د خدای لپاره ورکوي (پیدایښت ۲۸: ۱۸–۲۲).

د دې سره سره هغهٔ د خپلو غلطیو سزاولیده- د هغهٔ لور "دینه" بی عزته شوه. زامن یې چلبازان او قاتلان شول (۳۴). د

هغه ګرانه ښځه راحیل د اولاد د زیږیدو په وخت کښې مړه شوه (پیدایښت ۳۵: ۱۲-۲۰). د راحیل لومړنی زوی یعني یوسف یی دلاسه ورکړ (پیدا یښت ۳۷: ۳۴- ۳۵). څلورم زوی یې هغۀ ته د سپکوالی او شرم باعث شو (پیدایښت ۳۸). او د خپل نوي زلمي زوی بنیامین څخه جلا شو (پیدا یښت ۴۳).

د یعقوب ژوند ته په بیا کتنی سره یوه بحرانی حالت ګورو چې په فنئیل کښې د مالک خدای سره د غیږو نی لاړښونی ولو په وخت کښې ورته پېښه شوې وه. د هغه نذر څخه چې په بیت ائیل کښې یې د خدای لپاره په خپل ځان منلي ؤ شل کاله تیر شول. د یعقوب مقاومت له خدای سره په یوې مخامخ مبارزې کښې پای ته رسېږي. خدای د هغۀ نوم د یعقوب نه په اسرائیل بدلوي چې د خدای د د شاهزاده په معنی ده. یعقوب ته یې یو نوی برکت ورکړ (پیدا یښت ۳۲: ۲۴-۳۰). یعقوب خپل پاتې ژوند حتی د ستونزو او کړاوونو په دوران کښې هم خدای ته وسپاره (۴۷: ۹). خدای یعقوب ته ډیر عمر وبخښه او هغه د یوسف زامنو (۴۸: ۱۳-۲۰) او خپلو زامنو ته برکت ورکړ (۴۹).

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۳_ د یعقوب ژوند مونږ ته ډېر شیان زده کوي. د یعقوب د ژوند څخه په استفادې سره لاندنې سوالونو ته ځوابونه ورکړئ او بیا

خپل ځوابونه زمونږ د ځوابونو سره پرتله کړئ. د مثال په توګه مو لومړي سوال ته ځواب ورکړی دی.

الف) آیا دا خبره درسته ده: څه چې کرو هغه به ریبو؟
هو! یعقوب نورو سره درغلي کوله خو لابان
د یعقوب سره چل وکړو او هغه یې وغولاوه.

ب) آیا نېکمرغي همیشه په دې معنی ده چې
خدای زمونږ عملونه تائیدوي؟

ج) آیا خدای کولای شي چې زمونږ دښمنان
زمونږ سره پخلا کړي؟

د) آیا مونږ باید د خپلو غلطیو او تیروتنو
بدله ورکړو؟

هـ) آیا خدای کولای شي چې زمونږ ذات او
طبیعت بدل کړي؟

## خپل ځوابونه مقایسه کړئ

۱_ الف) غلط

ب) درست

ج) غلط

د) درست

۲) الف، ب او ج

۳) ب) نه! یعقوب د نافرمانۍ په وخت کښې هم نېکمرغه او کامیابه ؤ.

ج) هو! عیسو یعقوب معاف کړو او دواړه ورونړه بیا سره ملګري شول.

د) هو! یعقوب او حتی زامنو یې هم د خپلو بدو عملونو په خاطر ستونزې او کړاوونه وګالل.

ه) هو! خدای پاک یعقوب ته بدلون ورکړ او هغه ته یې نوی نوم وبخښه چې د خدای د شهزاده په معنا دی.

اتم لوست

# په مينې او وقف سره د مطالعې طريقه

د زړه په مينه، او ځان وقفولو سره مطالعه يو شخصي کار دی. د دې هدف دا دی چې تاسو خدای ته نږدې کړي او د روحانی ژورو حقيقتونو سره مو وتړي. روح القدس ستاسو لار ښود دی. مګر شيطان دغه کار نه خوښوي. هغه نه غواړي چې د خدای کلام په خپل ژوند کښې عملي کړئ، نو شيطان تاسو سره جنګيږی. هغه غواړي چې تاسو نااميده کړي. هغه غواړي چې تاسو په خدای شک وکړئ. او په تاسو کښې روحاني تاوتريخوالی (کشمکش) منځ ته راوړي.

عيسی مسيح مونږ ته ښيي چې دې روحاني تاوتريخوالي سره څه ډول سلوک وکړو. کله چې شيطان عيسی مسيح ته په بيابان کښې وسوسه واچوله، عيسی ورسره مقابله وکړه او مقاومت يې ښکاره کړ (متی ۴: ۱-۱۱ ولولئ). هغه د نړۍ د ډېرې قوي وسلې څخه کار واخيست. چې هغهٔ د خدای کلام ؤ. نو شيطان بايد تيښته کړې وای ځکه چې د خدای کلام رېښتينی او ژوندی دی. د افسيانو په نوم خط ۲: ۱۷ کښې د

خدای کلام د "روح توره" نومول شوې ده. چې په هغې سره کولای شئ د ابلیس د چال چلندونو په مقابل کښې مقاومت وکړئ او د جګړې تر پایه پورې ټینګ پاتې شئ. "د خدای په ټولو وسلو ځان سمبال کړئ د دې د پاره چې تاسو د ابلیس د منصوبو مقابلې ته ټینګ ودریدی شئ. ځکه چې زمونږ جنګ د انسان خلاف نه دی بلکه د فسادونو د هغه روحاني لښکرو چې په آسمانی ځایونو کښې دي، د حکومت د خاوندانو، د اختیار لرونکو، او د دې دنیا د تیارې د حاکمانو سره دي. د دې له پاره تاسو د خدای وسلې واغوندئ بیا به تاسو د دې جوګه شئ چې په بده ورځ کښې د مقابلې لپاره ودریږئ او ټول کارونه پوره کړئ او بیا هم قائم پاتې شئ" (افسیان ۶: ۱۱-۱۳).

کله چې د خدای کلام په خپل زړه کښې لرئ نو هغه به تاسو ته پاکي، روغتیا او بریالیتوبونه در په برخه کړي.

## هغه څه چې په دې لوست کښې به یې ولولئ

- په مینې او وقف سره د مطالعې ارزښت
- د وقف شوې مطالعې لپاره لارښوونې
- د وقف شوې مطالعې د کارولو ځایونه
  - دپیغام شخصي کول
  - د پیغام عملي کول

## دا لوست به تاسو سره مرسته وکړي ترڅو...

پہ مینې او وقف سره د مطالعې ارزښت تشریح کړای شئ.
دا تشریح کړای شئ چې څنګه کولای شو هغې ته عملي بڼه ورکړو.
پہ مینې او وقف سره د مطالعې کولو په لارښوونو پوه شئ.

## پہ مینې او وقف سره د مطالعې ارزښت

تر اوسه پورې مو د بېلابېلو دستورو په کارولو سره د خدای د کلام د مطالعې په هکله ډېر مطالب زده کړل. مګر د خدای د کلام د پوره درک او پوهې لپاره باید هغه په وقف او مینې سره مطالعه کړئ. هغه مطالعه چې د مینې او وقف سره مل وي د روحاني مسائلو څخه تاسو ته شخصي درک دربخښي.

د "وقف" کلمه د "ژورې مینې" او "تړاو" په معنی ده. همدارنګه ((داسې یوه دعا ده چې یو کس په عذرو زارۍ او عاجزۍ سره له خدایه یوڅه غواړي)). دا ډول لوستنه د زړه کوونکي د پوره پاملرنې غوښتنه کوي.

په مسيح کښې اوسېدل، او په خپلو زړونو کښې هغۀ ته ځای ورکول، د مسيحيانو ستر هدف دی. عيسی وويل، "که تاسو په ما کښې اوسئ او زما خبرې په تاسو کښې اوسي نو چې تاسو څه غواړئ د هغې خواهش کوئ او زه به يې درکوم. دغه شان زما د پلار جلال په دې ښکاره کيږی چې تاسو ښه ډيره ميوه ونيسئ او زما مريدان ښکاره شئ. لکه چې پلار ما سره مينه کړې ده دغه شان زه تاسو سره مينه کوم، زما په مينه کښې اوسئ. که چيری تاسو زما په حکمونو عمل کوئ نو تاسو به زما په مينه کښې اوسئ داسې لکه چې ما د خپل پلار په حکمونو عمل کړی دی. او د هغه په مينه کښې اوسم. دا ما تاسو ته ويلی دي د دې د پاره چې زما خوشحالي دې په تاسو کې وي او ستاسو خوشالي دې پوره شي" (يوحنا **۱۵**: ۷ – ۱۱).

په وقف سره مطالعه د مسيح او ايماندار ترمنځ د يووالي او اتحاد سبب ګرځي. په دې ډول مطالعې کښې د خدای د کلام يوه لنډه برخه لولو، احتمالاً هغه په کراتو او مراتو او ورو ورو لولو. او په دعا کولو سره د هغې په معنی باندې سوچ کوو. له ځانه څخه دا پوښتنه کوو، دغه آيتونه زما زړه ته څه وائي؟ آيا زما د موجوده اړتياوو په هکله کوم څه بيانوي؟ عيسی مسيح ما ته څرنګه ځرګندوي؟

دې کار ته تفکر يا "ژوره کتنه" هم وايي چې هماغه "پاملرنه" ده. په عين وخت کښې هغې ته ورته (مشابه) يو بل متن هم لولو ترڅو د هغې په معنا په ښه توګه پوه شو او زمونږ

ذهن د خدای د حضور څخه ډک شي. په دغه وخت کښې د خدای کلام زمونږ دننه ننوزي او مونږ تغذيه کوي. ليکل شوی کلام مونږ ته عيسی مسيح راښکاره کوي. هغه ژوندی کلام دی. هر څومره زيات چې ليکل شوی کلام وپيژنو په هم هغه اندازه ژوندی کلام په ښه توګه پېژندلی شو، او څومره زيات چې مسيح وپيژنو په هم هغه اندازه ورسره زياته مينه پېداکوو او فرمانبرداری يې کوو.

داؤد بادشاه د خدای د کلام په هکله ډېر فکر کاوه. هغه وائي، "ژبه مې د حکمت څخه خبرې کوي او زړه مې د پوهې او درک څخه ډک دی" (زبور ۴۹: ۳).

کله چې مونږ په مسيح کښې يو او مسيح په مونږ کښې دی مونږ هم دهغهٔ په شان تفکر لرو (اول کورنتيان ۲: ۱۵-۱۶ ولولئ). او زمونږ دا تفکر زمونږ ذهن نوی او تازه کوي.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۱_ د مينې او وقف سره د مطالعې په اړوند د صحيح عبارت مخ ته د (✓) علامه ورکړئ.

الف) مونږ خدای ته نږدې کوي.

ب) زمونږ روحاني اړتياوې پوره کوي.

ج) د مسيح فکر مونږ ته راکوي.

د) د خدای د کلام د مطالعې د نورو برخو ځای نیسي

۲ـ د لاندینیو عبارتونو څخه کوم یو دا لاندینۍ جمله پوره کوي.
په مینې او وقف سره د مطالعې کلي (چابي) دا ده چې مونږ ته اجازه راکوي ........................................
الف) ځان د حقیقت څخه جلا کړو.
ب) خپل فکرونه د خدای په کلام مالامال کړو.
ج) خپلو نویو عقایدو ته شکل ورکړو.

## د وقف شوې مطالعې لپاره لارښوونې

حضرت داود دعا وکړ، "زما سترګې پرانیزه ترڅو ستا د شریعت عجیبه شیان وګورم" (زبور ۱۱۹: ۱۸). مونږ هم دغه شان دعا کولوته اړتیا لرو. ترڅو د خدای د کلام پیغام واضح، شخصي او د عمل کولو قابل شي. د خدای د کلام هره برخه یو مهم حقیقت بیانوي. زیاتره داسې حقیقتونه شته چې ډیر کم په نظر راځي. ستاسو دنده دا ده چې هغه څه چې روح القدس غواړي تاسو ته یې ووائي هغه په سمه توګه درک کړئ.

د دې لاندینیو پنځو ګامونو په کارولو سره تاسو کولای شئ چې د خدای د کلام څخه د روښانه درک د ترلاسه کولو لپاره استفاده وکړئ.

ددې پنځه ګامونو څخه استفاده وکړئ.

**لوستل**:- د خدای د کلام مطالعه په لوستلو سره پیل کیږي. پولوس په خپل اول خط ۴: ۱۳کښې تیموتیوس ته وائي، "د کلام په لوستلو او نصیحت کولو او په تعلیم ورکولو کښې بوخت اوسه." په دې خاطر چې په روحاني لحاظ روغ او سالم واوسو باید هره ورځ د خدای د کلام څخه تعذیه شو. "بلکه په ډېرې لیوالتیا سره د خدای د احکامو څخه پېروي کوي او شپه او ورځ پر هغۀ سوچونه کوي" (زبور ۱: ۲).

د نوې لوظنامې په دوران کښې د "بیریه" د اوسېدونکو په منځ کښې د مسیحیانو یوه داسې ډله وه چې د خدای د کلام سره د مینې په درلودلو مشهوره وه (اعمال د رسولانو ۱۷: ۱۰-۱۱ ولولئ). هغوی یواځې د خدای د کلام اوریدونکي نه وو بلکه هره ورځ به یې په هغې کښې پلټنه هم کوله. مونږ هم باید د هغوی په شان په پوره وفادارۍ سره د خدای کلام ولولو.

**لیکل او یادداشتول**:- هغه زده کونکی چې په پوره پاملرنې او غور سره مقدس کتاب لولي نو د مطالعې په دوران کښې څه مهم ټکي د یادداشت په توګه لیکي. د هغۀ قلم یوه داسې وسیله ده چې د هغۀ د ذهن او سترګو سره مرسته کوي. ترڅو هغه روحاني حقیقتونه چې روح القدس یی څرګندوي، ووینې.

**پلټنه:-** د خدای د کلام حقیقتونه ساده او روښانه دي مګر د ژورو او بنیادي معناوو څخه هم برخمند دي. د خدای د کلام ژورې معناوې لکه د "سپینوزرو" او یا د "پټې خزانې" په څېر دي چې باید د خپلې مطالعې په دوران کښې هغه ولټوو او لاس ته یې راوړو (امثال ۲: ۴ ولولئ).

**ارتباط یا تړاو:-** د متن د معنی د تفسیر او بیان نه مخکې باید هغه ته له خپل اصلي مضمون سره ارتباط یا تړاو ورکړو. مونږ دې ته اړتیا لرو چې هغه تعلیمات هم ولولو چې یو د بل سره تړاو لري. دا کار مونږ سره مرسته کوي چې د هر متن یووالی او تړاو چې له مقدس کتاب سره یې لري، پیدا کړو.

**تفکر یا ژوره کتنه:-** باید د خدای په کلام سوچ وکړو، "ترڅو خپل غوږ حکمت او عقلمندۍ ته خلاص ونیسئ او خپل زړه او پوهې او هوښیارۍ ته لیواله کړئ" (امثال ۲: ۲).

کله چې د مطالعې په ترڅ کښې د خدای په کلام سوچ کوو نو د خدای روح زمونږ د زړونو سره خبرې کوي او وائي، "ستا شریعت څومره زیات خوښوم او دومره مینه ورسره لرم چې ټوله ورځ زما فکر د هغۀ سره وي" (زبور ۱۱۹: ۹۷). که چیری د امثالو د کتاب ۴: ۲۰-۲۱ د فرمان تابعداري وکړو، ډیر زیات برکت به لاس ته راوړو. هغه څه ته په پاملرنې سره چې خدای یې وائي کله چې مونږ مقدس کلام ته واقعاً غوږ ونیسو، د خدای

او د هغه له کلام سره به لا زيات اشنا شو. هغه ته اجازه ورکوو چې زمونږ ژوند کنټرول کړي، او اطاعت کول به هم زده کړو.

فکر کول او ژوره کتنه، زمونږ زړه د خدای او د هغه سره د مينې کولو او تابعدارئ لورې ته خلاصوي. صحيح فکر کول زمونږ په ژوند ډيرې ښې اغيزې لري.

## هغه څه چې تاسو يې بايد سرته ورسوئ

۳_ د وقف شوي لوستنې پنځه مهم ګامونه بيان کړئ.
۴_ د ۱۱۹ زبور ۲۷، ۴۸، ۷۸، ۹۵، ۹۹، او ۱۴۸ آيتونه ولولئ. په دغو ټولو آياتونو کښې کومه کلمه تکراريږي؟

## د وقف شوې مطالعې د کارولو ځايونه

### د پيغام شخصي کول

وقف شوې مطالعه د دې سبب ګرځي چې د مقدس کتاب پيغام واضيح او شخصي شي. د دې کار ارزښتناکه برخه دا آيتونو حفظول دي. خدای د تثنيه په کتاب ۶: ۶–۹ کښې حکم کړی دی، "دغه خبرې چې زه تاته نن ورځ پرې امر کوم بايد ستا په زړه کښې وي. او په غور سره خپل اولادونو ته د هغې تعليم ورکړه، او خپل کور کښې د ناستې په وخت، په لاره د تللو په وخت، د ويده کيدو او ويښيدو په وخت هميشه هغه تکراروه

اوپرې خبرې کوه. هغه په خپل لاس لکه د نښې په شان وتړه، او یه په خپل اوچولي کښې یې بند کړه، ترڅو همیشه در په یاد وي. او هغه د خپلو کور په دروازو او درشلونو پرسر ولیکه.“

”ستا کلام په خپل زړه کښې ساتم او هغه حفظوم، تر څو هسې نه شي چې ستا په مقابل کښې ګناه وکړم“ (زبور ۱۱۹: ۱۱). د خدای کلام مونږ سره مرسته کوي چې په شیطان غلبه حاصله کړو (مکاشفه ۱۲: ۱۱ او لوقا ۴: ۴) او سپېڅلی ژوند ولرو (زبور ۱۱۹: ۹ او یوحنا ۱۵: ۳). د خدای کلام مونږ سره مرسته کوي ترڅو بریالي او کامیابه شو (یوشع ۱: ۸)، په ایمان کښې قوي شو (رومیان ۱۰: ۱۷)، د روحانی پلوه وده وکړو (اول پطرس ۲: ۲) او مونږ سره مرسته کوي چې نورو قومونو ته ګواهي او زیری ورکړو (دوهم تیموتیوس ۳: ۱۲).

د خدای د کلام له یاده زده کول (حفظ کول) د هغې د شخصي کولو یوه برخه ده، باید د خدای کلام د خپل ځان لپاره ولولو. باید هغه د خپلې لارې رڼایي او د خپلو قدمونو لپاره ډیوه وګڼو (زبور ۱۱۹: ۱۰۵). باید د خپل ځان څخه پوښتنه وکړو چې دا آیت ماته اوس کوم مطلب بیانوي؟ او ماته د هغې په اړوند څه کول پکار دي؟

مقدس کتاب د خدای دکلام د عملي کولو په هکله وائي: ”خو په کلام عمل کوونکی جوړ شئ، نه چې تش اوریدونکي چې ځان په دوکه کښې ساتي. ځکه چې هغه څوک چې د کلام

اوريدونکي دي او عمل پرې نه کوي هغه د هغه سړي په شان دي څوک چې خپل شکل په آئينه کښې وګوري. هر کله چې هغه خپل ځان ويني او لاړ شي، سمدستي دا هير کړي چې زه څنګه وم. خو کوم سړی چې د آزادئ په کامل شريعت په غور سره ګوري، هغه به په خپل کار کښې بختور وي، ځکه چې هغه چې څه واوري نو هيروي يې نه، خو عمل پرې کوي" (يعقوب ۱: ۲۲-۲۵).

په بېلابېلو طريقو سره کولای شو چې د خدای په کلام عمل وکړو. مونږ بايد د خدای د فرامينو تابعداري وکړو او د هغه کارونو څخه ډډه وکړو چې هغۀ منع کړي دي. د بيلګې په توګه: بايد خپل ګاونډي سره مينه او محبت وکړو (لوقا ۱۰: ۲۷). او خپل مسيحي ورور باندې تور ونه لګوو او هغه محکوم نه کړو (روميان ۱۴: ۱۳). بايد د خدای د وعدو اعلان وکړو. يواځې دا کافي نه ده چې په دې پوه شو چې د مسيح سره په يووالي کښې مونږ ته يو کامل ژوند رابخښل شوی دی (کولوسيان ۲: ۱۰)، بلکه بايد هغه اعلان کړو او خپله آزادي په مسيح کښې تجربه کړو (کولوسيان ۲: ۱۱ او ۲۰).

بايد د نورو څخه يې زده کړو. د هغو د منفی او مثبتو ټکو څخه لکه چې په اوم لوست کښې مو وځېړل، عبرت واخلو. د ټولو نه لومړی بايد د خدای دکلام په ريشتينولۍ باندې ايمان راوړو. او د هغې مطابق ژوند خپل کړو. د دې مطلب د څرګندولو لپاره مقدس کتاب تعليم ورکوي چې مونږ د مسيح

سره يووالی لرو (افسيان ۲: ۱۴–۱۸). د هغهٔ محبت مونږ د
مسيح په شان جوړوي (افسيان ۳ : ۱۷–۱۹، اول کورنتيان ۱۳).

دې حقيقتونو ته زمونږ ځواب به دا څرګنده کړي چې آيا
مونږ دا حقيقتونه په خپل ژوند کښې کاروو او که نه.

## د پیغام عملی کول

مالک خدای زمونږ نه غواړي چې د انجیل پیغام نورو خلکوته هم ورسوو. په همدې اساس د خدای د کلام د مطالعی یو اصلی هدف دا دی چې د خدای حقیقت له نورو سره شریک کړو. د خدای کلام د نورو خلکو د تعلیم ورکولو لپاره مونږ ته شوق او لیوالتیا راپه برخه کوي.

تعلیم او زده کړه د کور څخه شروع کیږي. باید د خدای کلام خپلو اولادونو ته ورزده کړئ (تثنیه ۲ : ۷). په یو مطلب پوهیدل او او کوچنیانو او ځوانانو ته د هغې رسول مونږ ته خوشحالي راپه برخه کوي. مخصوصاً کله چې مونږ دا کار په خپلې کورنۍ کښې ترسره کړو. نو په دې توګه د کولوسیانو ۳ : ۱۲ په مطابق باید یو بل ته په پوره هوشیارۍ سره تعلیم ورکړو. پولوس تیموتیوس ته وائی، "او کومې خبرې چې تا د ډیرو ګواهانو په وړاندې زما نه اوریدلي دي هغه د داسې دیانتدارو سړو په حواله کړه، څوک یی چې نورو ته د ښودنې لائق وي" (دوهم تیموتیوس ۲ : ۲).

مسیح ټولو مسیحیانو ته دغه دنده سپارلې ده چې، "د تمامی دنیا هری سمی ته لاړ شئ او زما د زیری وعظ ټول مخلوق ته وکړئ" (مرقوس ۱۲ : ۱۵). د دې دندې یوه برخه هغوی ته تعلیم ورکول دي (متی ۲۸ : ۲۰ ولولئ). مسیح زمونږ نه غواړي چې لکه د یوې میوه دارې ونې په شان میوه ونیسو.

هغهٔ ویلي دي، "تاسو زه غوره کړی نه یم، ما تاسو غوره کړي یئ. او ما تاسو په دې مقرر کړئ چې لاړ شئ او میوه ونیسئ. هغه میوه چې د تل ده" (یوحنا ۱۵: ۱۲).

باید په پوره هڅې او هاند سره هغه څه ووایو کوم چې عیسی مسیح ویلي و، "زما خوراک څښاک هغه دی چې زه د هغه رضا وکړم او هغه کار پوره کړم کوم له چې راستولی شوی یم" (یوحنا ۴: ۳۴). تاسو ګورئ چې مالک خدای مونږ ته د دې لپاره نجات نه دی راکړی چې فقط ارام کښېنو او د خپل نجات څخه خوند واخلو. خدای زمونږ نه دا تمه لري چې د نورو سره هم د هغهٔ په هکله خبرې وکړو او د هغهٔ زیری ورته ورسوو.

مالک خدای زمونږ نه غواړي چې مقدس کتاب د هغهٔ د خوشحالۍ او قدرت د لاس ته راوړلو لپاره د یوې وسیلې په توګه، د زړه په مینه او جذبې او وقفي مطالعې سره ولولو. مګر خدای هغه وخت ډیر خوشحالیږي چې مونږ هغه نورو خلکو ته ورسوو.

د خدای د کلام سره زمونږ مینه د دې سبب ګرځي چې د هغه په هکله د نورو سره خبرې وکړو، او دهغهٔ پیغام ورته وروسوو، مالک خدای دې تاسو ته برکت درکړي ترڅو د خدای د کلام مطالعه ستاسو د ژوند برخه جوړه شي.

## هغه څه چې تاسو یې باید سرته ورسوئ

۵ـ خالی ځایونه په صحیح او مناسبو کلمو سره ډک کړئ.
دوه هغه طریقې او لارې چې د هغی په واسطه وقفي مطالعه کولای شئ د کلام........................ او ........................ دی.
۶ـ د پنځو هغو طریقو نومونه واخلئ چې د هغې په واسطه کلام شخصي کولای شئ.
۷ـ دا تشریح کړئ چې ولې دې ته اړتیا لرو د خدای د کلام پیغام ته عملي بڼه ورکړو.

هر څومره زیات چې د خدای کلام مطالعه کړو نو د هغې ښکلا به نوره هم زیاته شي. څومره ډېر چې په هغې کښې پلټنه وکړو هغومره زیات زمونږ زړونه ځان ته راکاږي. په هغې باندې زمونږ ایمان زیات برکتونه د خپل ځان سره لري. د خدای د کلام مطابق ژوند تیرول خوشحالي او سوله منځ ته راوړي. او نورو ته د هغې رسول او هغوی ورته رابلل ابدی قدرت ثابتوي.

## خپل ځوابونه مقايسه کړئ

۱ـ الف) درست

ب) درست

ج) درست

د) غلط

۲ـ ب

۳ـ لوستل، ليکل او يادداشتول، پلټنه، ارتباط يا تړاو، تفکر يا ژوره کتنه.

۴ـ هغه لفظ چې ورته اشاره شوې ده تفکر يا ژوره کتنه ده. دغه آيتونه هم فکر کولو ته اشاره کوي (۱۱؛ ۱۵؛ ۲۳؛ ۵۵؛ ۹۷).

۵ـ د پيغام شخصي کول، د پيغام عملي کول.

۶ـ لوستل، ليکل او يادداشتول، پلټنه، ارتباط يا تړاو، تفکر يا ژوره کتنه.

۷ـ بايد انجيل د تعليم او موعظې له لارې د نورو خلکو سره شريک کړو. (د دې کار د سرته رسولو لپاره بايد و شو کولای چې د خدای د کلام پيغام په عملي توګه تشريح کړو.)

# مقدس کتاب څرنګه ولولو

آیا غواړئ وپوهېږئ چې:

- مقدس کتاب ستاسو لپاره کوم کار سرته رسولی شي؟
- مقدس کتاب څرنګه ولولئ؟
- څرنګه خپل وقف شوي ژوندون ته قوت ورکړئ؟

که ستاسو ځواب هو وي نو دا کتاب ستاسو لپاره لیکل شوی دی. د مقدس کتاب اساسی اطلاعات او د هغې د مطالعې لپاره ذکر شوي ټکي تاسو سره د شخصي لوستنې په شروع کولو کښې مرسته کوي. تاسو کولای شئ چې یو مضبوط بنیاد ځانله جوړ کړئ چې هغه همدا د خدای کلام دی.

دغه کتاب په ډېرې ساده طریقې سره لیکل شوی دی چې لوستل او پوهېدل یې د هر لوستونکي لپاره اسانه ده. تاسو یواځې د کتاب لارښوونې او تمرینونه په عمل کښې پلي کړئ.

دغه کتاب د هغو کتابونو د سلسلې یوه برخه ده چې د «مسیحي ژوند» په نامهٔ یادېږي. د مسیحي ژوند سلسله ټول اتلس کتابونه لري. ښه به دا وي چې دا کتابونه په پرله پسې توګه مطالعه کړئ.